د افغانستان اسلامی امارت

لوړو زده کړو وزارت


التقوا د لوړو زده کړو مؤسسه

حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی

# ستراتېژیک پلان

## ۱۴۰۰ – ۱۴۰۴ لمریز کال

ترتیب: د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ستراتېژیک پلان کمېټه


بسم الله الرحمن الرحیم

## لړلیک

موضوع مخ


د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د رییس پیغام...1
درېیم مبحث: د مؤسسې لرلید او ماموریت...8
لرلید(Vission)...8
ماموریت(Mission)...8
څلورم مبحث: ارزښتونه( Value)...9
دوهم فصل...14
چاپیریالي عواملو مطالعه او د ستراتېژیکو پروګرامونو لومړیتوب...14
لومړی مبحث: چاپیریالي عواملو تحلیل...14
لومړی جز: د داخلي چاپیریالي عواملو تحلیل...14
د داخلي عواملو تحلیل (IFEM)(Internal Factors Evaluation Matrix)...18
دوهم جز: د خارجي ( بهرنیو)عواملو تحلیل...19
د بهرني چاپیریالي د عواملو تحلیل(EFEM) (Enternal Factor Evaluation Matrix)...21
دوهم مبحث: پوهنځي د ستراتېژیو ټاکنه...22
د داخلي او بهرنیو عواملو پرتلنه او نهایي نمرې...22
د داخلي او بهرنیو عواملو نهایي نمرې Matrix External & Internal...22
روش(SWOT)...26
درېیم فصل...28
سراتېژیک پلان پنځه ګونې برخې(شاخصونه)...28
څلورم فصل...39
د لوړو زده کړو جلیله وزارت سراتېژیک لومړیتوبونه...39
لومړی مبحث: حکومتولي...39
لومړ جز: د رهبری پروګرامونه...39
دوهم مبحث: علمي او اکاډمیک پروګرامونه...43
لومړی جز: په علمي کادر کې وړ او مسلکي استادانو زیاتول...44
دوهم جز: د کادر غړو ظرفیت لوړول...44
درېیم جز: علمي څېړنې...45
څلورم جز: د محصلینو لپاره د فرهنګي او سپورټي خدماتو او اسانتیاوو برابرول 51
د ستراتېژۍ اجرا...61
د استراتژۍ ارزیابي...61

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د رییس پیغام



د علمي کورنۍ درنو لوستونکو! خوښ یم ، چې، التقوی لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پنځه کلن سراتېژیک پلان له تاسو ښاغلو سره شریکوم، دغه پلان د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۰-۱۴۰۴) لپاره د علمي او اداري چارو د ښه ترتیب او تنظم په موخه جوړ شوی دی، د انساني ژوند په هره برخه کې د پلان جوړول او لرل اړینه او ارزښتمنه موضوع ده، بې پلانه ژوند ، بې پایلې سفر ته ورته دی، د چارو د ښه ترسراوي او تنظیم په موخه د ټولو ادارو او په ځانګړي ډول د علمي ادارو لپاره سراتېژیک پلان خورا مهم دی، په همدي اساس د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سراتېژیک پلان ته په ډیر ارزښت قایل دی، ، چې دغه پلان به د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ټولې علمي او څېړنیزې برخې په موثره، مثمره، علمي او عملي ډول په هر اړخیز ه توګه رهبري او تنظیم کړي او ان شاءالله د پوهنځي د ټاکلو موخو په لاسته راوړلو کې رغنده رول ولوبوي، دغه سراتېژیک پلان د ټولو ښکېلو اړخونو سره په مشورې د یوې پراخې څېړنې او مشترکو هڅو په پایله کې جوړ شوی، ، چې په ټوله کې پنځه برخې لري:

1. مالي سرچینې
2. څېړنه
3. په ټولنه کې ونډه
4. په ملي او نړیواله کچه هوکړه لیکونه
5. معلوماتي ټکنالوژۍ کارونه

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی غواړی خپلو سراتېژیک موخو ته ددې پلان په اساس د یو ځانګړي علمي او عملي میکانیزم له لارې ورسېږي، په همدې پار پر اسلامي، ملي او نړیوالو معیارونو برابر، د حقوقي او سیاسي علومو برخو کې په ملي او بین المللي کچه د غوره حقوقي او سیاسي خدمتونو په موخه محصلین وروزي او ټولنې ته یې وړاندې کړي؛ څو محصلین د معاصرو علومو او مهارتونو سره داسې آشنا شي، ، چې دکار په مارکیټ کې په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه سالم رقابت وکړای شي، او په هر اړخیزه توګه د افغاني ټولنې ستونزې هوارې او د کادرونو روزلو په برخه کې موجوده تشه ډکه کړي.

په پای کې زه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی له ژمن او فعال کاري ټیم څخه مننه کوم، چې په پوره صداقت او ایمانداری یې د دې علمي کاروان لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي او لاد پر مختګ پر لور ګامونه اخلي ، هیله مې داده، ، چې په ګډه سره خپلو ټاکلو اهدافو ته ورسېږو او ددې پلان ټولې برخې او ژمنې په ښه شکل عملي کړي.

زاهدالله سیدي

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رییس

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لپاره ستراتېژیک پلان چوکاټ

### د ستراتېژیک پلان د جوړولو مراحل

مقدمه: حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لنډه پېژندنه، فعالیتونه او پخوانۍ ستراتېژیانې

دپوهنځي د لیدلوري، د ماموریت ، د ارزښتونو، د ستراتېژیکو موخو ټاکل

د محیطي عواملو مطالعه او د لوړوزده کړو وزارت د ستراتېژیکو پروګرامونو لومړیتوبونه او شاخصونه

دجوړښت مرحله

چاپیریالي عوامل (داخلي او بهرني) پیاوړتیاوې کمزورتیاوې، فرصتونه او ننګونې.

د لوړوزده کړو وزارت لومړیتوبونه: حکومتولي، علمي او اکاډمیک فعالیتونه، زیربناوې، لوړوزده کړو ته لاس رسی پنځه ګوني شاخصونه: څېړنه،عواید ،ټکنالوژۍ، نړیوال فعالیتونه او په ټولنه کې د پوهنځي ونډه.

د ممکنه ستراتېژیانو ټاکنه:
د ستراتېژیانود لومړیتوب ټاکنه:
د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه:
د لنډمهاله موخو ټاکنه:

داجرا مرحله

د کلنۍ برنامې فعالت،د بودیجې جوړونه، مالي پروګرامونه،دخطراتو مدیریت د پوهنتون لپاره درهبرۍ دطریقې ټاکنه ، د پوهنتون د رهبرۍ سبک د اجرایوي پالیسیو جوړول.ټاکنه، د منابعو تخصیص

دارزونې مرحله

دستراتېژیکو پروګرامونوڅارنه او ارزونه

# لومړی فصل

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پیژندنه، فعالیتونه، لرلید او ماموریت، ارزښتونه

### لومړی مبحث: د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پېژندنه

التقوی د لوړو زدکړو موسسې په اډانه کې  اقتصاد پوهنځي ترڅنګ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هم شامل دی، ، چې په ۱۳۹۱ کال کې تاسیس شوی ، د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي اداري جوړښت د رهبری په سرکې د پوهنځي رییس، مرستیال او د څانګو امرین قرار لري.

پوهنځی د حقوقي علومو، نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو په نامه د دوو څانګو درلودونکی دی ، چې د تدریس په چارو کې هر اړخیزه مرسته کوي. همدارنګه، پوهنځی بېلابېلې کمېټې لکه (د کیفیت تضمین، څېړنې، کرېکولم، پلان او پالېسی) لري، ، چې د ځانګړو کاري لایحو له مخې خپلې تدریسي، اداري، علمي او تخینکي چارو د پر مختګ لپاره کار کوي ، ، چې اړونده چارې د پوهنځي د رییس، مرستیال، د څانګو آمرینو او هم د پوهنتون د مشرتابه له خوا څارل کېږی څو یقیني شي، ، چې اړونده چارې په اغېزمن ډول پر مخ رواني دي او د تر سره شویو فعالیتونو په هکله اړونده ادارو ته وخت پر وخت خبر او راپور ورکول کېږي. د پوهنځي د لا ښې پېژندنې په موخه په نوموړي پوهنځي کې د برحاله ، فاغو محصلینو، استادانو او اداري کارکوونکو احصائیه په لاندې ډول ذکر کوو.

**دحقوقو پوهنځي د (۱۴۰۲) تحصیلي کال برحاله محصلینو شمېرنه (احصایه)**

| ګڼه | څانګې | نارینه | ښځینه | ټول |
|---|---|---|---|---|
| 1 | حقوقي علومو څانګه | ۳۴۶ | ۰ | ۳۴۶ |
| 2 | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه | ۴۴۱ | ۰ | ۴۴۱ |
| | ټول | ۷۸۷ | ۰ | ۷۸۷ |

## دحقوقو پوهنځي د (۱۴۰۰) تحصیلي کال برحاله استادانو شمېرنه (احصایه)

| ګڼه | پوهنځي | څانګې | دایمي نارینه دوکتور | دایمي نارینه ماستر | دایمي نارینه لیسانس | دایمي ښځینه دوکتور | دایمي ښځینه ماستر | دایمي ښځینه لیسانس | ټول | قراردادي نارینه دوکتور | قراردادي نارینه ماستر | قراردادي نارینه لیسانس | بالمقطع نارینه دوکتور | بالمقطع نارینه ماستر | بالمقطع نارینه لیسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حقوق او علوم سیاسي | حقوقي علومو څانګه | ۲ | ۸ | ۰ | | | | ۱۰ | | ۸ | ۱ | | ۰ | | ۹ |
| | | سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو څانګه | ۱ | ۷ | ۲ | | | | ۱۰ | | ۶ | ۲ | | | | ۸ |
| څانګې په کچه مجموعه | | | ۳ | ۱۵ | ۲ | | | | ۲۰ | ۰ | ۱۴ | ۳ | | ۰ | | ۱۷ |
| عمومي مجموعه | | | ۳۷ | | | | | | | | | | | | | |

## دحقوقو پوهنځي د (۱۴۰۰) تحصیلي کال برحاله د اداري او خدماتي کارکوونکو شمېرنه (احصا یه)

| ګڼه | څانګې | اداري کارکوونکي (مامورین) نارینه | اداري کارکوونکي (مامورین) ښځینه | ټول | خدماتي کارکوونکي نارینه | خدماتي کارکوونکي ښځینه | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حقوقي علومو څانګه | 3 | | 3 | 2 | | 2 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو څانګه | 3 | | 3 | 2 | | 2 |
| څانګو مجموعه | | 6 | | 6 | 4 | | 4 |
| عمومي مجموعه | | 11 | | | | | |

## دوهم مبحث: د پوهنځي فعالیتونه

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي عمده فعالیتونه په لاندې مواردو کې راټولولای شو او د تدریسي بهیر تر څنګ لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

1. تدریسي بهیر تر څنګ محصلینو ته دعملي برنامو په لاره اچول.
2. د شته هوکړه لیکونو څخه استفاده کول او بېلابېلو ادارارو ته د عملي زده کړو او روزنې په موخه د محصلینو ورپېژندل کول.
3. د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونې ته پاملرنه کول، ، چې اوس مهال همددې پوهنځي ځینې استادان د دوکتورا لپاره نورو هېوادونو ته لېږل شوي دي.
4. د موسسې اړوند مسایلو او چاپېریال ساتنې برخو کې ادارې سره په ګډه همکاري کول.
5. د پوهنځي د ځینو محصلینو له خوا په ملي سیالیو کې برخه اخیستل.
6. د دولسم صنف څخه فارغ او ممتاز زده کوونکي د کانکور ازموینو له لارې جذبول.
7. د تاکل شوي درسي نصاب او منظم مهال وېش له مخې محلینو ته تدریسي چارې پرمخ وړل.
8. په بېلا بېلو رشتو او څانګو کې محصلینو ته حقوقي زده کړو ورکول.
9. د لوړو زده کړو د قوانینو په رڼا کې د لېسانس ترک، چې د حقوقو او سیاسي علومو مسلکي کادرونو روزل.

10.د هېـواد پـه بيـا رغـونې او پرمختيـا پـه برخـه کـې د ونـډې اخيسـتلو پـه موخـه د کادرونو روزل.

## د ستراتېژيک پلان کمېټې جوړښت

| ګڼه | نوم | اصلي دنده | د کمېټې مسوليت |
|---|---|---|---|
| 1 | سیدامرا صمیم | استاد | مشر |
| 2 | ننګيالی مصون | استاد | د کمېټې مرستيال |
| 3 | محمد ظهور شریفی | استاد | د کمېټې منشي |
| 4 | شاکرالله فنا | استاد | د کمېټې غړی |
| 5 | حبیب الرحمن سربلند | استاد | د کمېټې غړی |

## درېيم مبحث: د مؤسسې لرليد او ماموريت

### لرليد(Vission)

حقوق او سياسي علومو پوهنځی غواړي، ، چې د علمي فعاليتونو او څېړنو پر مټ په ځانګړو ځانګو کې ژمن، متخصص، علمي او کاري کادرونه وروزي، ترڅو په نږدې راتلونکي کې د هېواد او سيمې په کچه د غوره اکاډميک بنسټ په توګه وپېژندل شي.

### ماموريت (Mission)

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د افغاني ټولنې د اړتياوو سره سم د معياري علمي او څېړنيز چاپيريال په رامنځته کولو سره حقوقي او سياسي نهادونو لپاره متخصص علمي او کاري کادرونه روزي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

## خلورم مبحث: ارزښتونه( Value)

التقوی د لوړو زده کړو موسسې د مشرتابه تر رهبرۍ لاندې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په خپله هره اړونده برخه کې د لاندې ارزښتونو په پام کې نیو سره په دوامداره توګه علمي او اداري خدمتونه وړاندې کوي.

### الف: صداقت او ریښتینولي

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي اداره وياړي، ، چې ټول علمي او اداري کارکونکي يې په پوره ايماندارۍ او صداقت سره خپلې دندې پرمخ وړي او په راتلونکي کې هيله لري، چې دغه ارزښت لا پسې پياوړی کړي.

### ب: متقابل درناوی

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په چوکاټ کې د کارکونکو خپلمنځي اړيکې او همدارنګه له محصلينو سره د چلند ډول د متقابل درناوي له مخې ترسره کېږي، متقابل درناوی او ښه سلوک هغه څه دي ، چې د دې پوهنځي د فعاليتونو لومړيتوبونه تشکيلوي.

### ج: عدالت او برابري

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي اداره خپلو ټولو کارکونکو(علمي او اداري) ته په يو نظر ګوري، هيڅوک يو پر بل لوړوالی نه لري، همدارنګه د ياد پوهنځي اداره دا خپل مکلفيت ګڼي ، چې له محصلينو سره په هيڅ صورت توپيري چلند ترسره نه شي، د عدالت او مساواتو اصل په پورته توګه په پام کې نيول کېږي.

### د: وړتيا او استعداد

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ټول کارکونکي د وړتيا او استعداد د اصل له مخې ګمارل شوي دي، او په دې برخه کې هيڅ ډول توپير په پام کې نه دی نيول شوی، وياړو ، چې وړ او مناسب اشخاص د اړوندو دندو پرمخ وړلو لپاره په دنده ګمارلي دي، همدارنګه د تشويق او هڅونې په موخه وړ او مناسب استادان او محصلين په بېلا بېلو ډولونو ستايل کېږي.

### هـ: اخلاقي معيارونو رعايت

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي اداره کارکونکي او محصلين د ټولنې ټول اخلاقي معيارونه په پوره توګه په پام کې نيسي او په دې برخه کې په مسولانه توګه چلند کوي، د ياد پوهنځي استادان همېشه په دې هڅه کې دي ، چې ګران محصلين په اخلاقي روحيه سمبال وروزي.

### و: سالمه اداره او رهبري

په دې پوهېږو ، چې سالمه اداره او رهبري د برياليتوب لومړی شرط دی او يوه اداره هغه وخت سالمه ګڼل کېږي، چې اغيزمنتوب او ګټورتوب ولري التقوی د لوړو زده کړو موسسه په ټوله کې او د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي اداره په ځانګړي ډول له يوې سالمې، فعالې او رغنده رول درلودونکې رهبرۍ څخه برخمنه ده، د ياد پوهنځي رهبري په دې هڅه کې ده ، چې د ټاکلو موخو د تعقيبولو په برخه کې ترممکنه حده ګړندي ګامونه پورته کړي او په راتلونکي کې د ټولنې د سالمې رهبرۍ لپاره په کار پوه او ورزيده اشخاص وروزي.

### ز: درسي ميتودونه

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي درسي بهير د لوړو زده کړو وزارت د کرېډيت لايحې سره سم برابر شوی دی ، چې د تيوريکي او حضوري درسي ساعتونو ترڅنګ؛ عملي درسي ساعتونو، صنفي پروژو، کتابتون ته مراجعه کول، کورنيو دندو اجراء کول او داسې نورو مواردو ته هم پوره پاملرنه شوې ده، موجوده امکاناتو ته په کتو سره، استادان په تدريس کې له يو شمېر لاندې ميتودونو او وسايلو څخه ګټه اخلي.

1. د OBE او SCL پر بنسټ د محصل محوري ميتود (لکه: ګروپي کارونه، صنفي بحثونه، رول پلې، ځاني مطالعه او داسې نور) په لاره اچول.
2.
3. د لکچرنوټونو برابرولو کې د پاورپاينټ او عصري تکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل.

4. د سپينې تختې، مارکر او درسي کتابونو څخه ګټه اخيستنه.
5. د تېر درس او نوي درس ترمنځ د اړيکو پيدا کول او په دې برخه کې محصلينو ته ونډه ورکول.
6. محصلينو ته د پوښتنو پوره وخت ورکول.
7. سيمينارونو، ورکشاپونو او کورنۍ دندې ورکول.
8. لکچر ميتود څخه استفاده کول.
9. د ډله ييز ميتود عملي کول.
10. د سوال او ځواب ميتود عملي کول.

**ح: غوره درسي سيستم او تحصيلي نصاب.**

التقوی د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي درسي سيستم د نړيوالو معيارونو په پام کې نيولو سره د لوړو زده کړو وزارت د کريډيت لايحې له مخې برابر شوی دی او د اړتيا سره سم وخت په وخت په کې نوی والی رامنځته کوي. اوسمهال د ياد پوهنځي دواړه څانګې (حقوقي علومو څانګه/ سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه) هر يو په ځانګړې توګه جلا جلا تحصيلي نصاب (کريکولم) لري ، چې د موسسې په کچه طی مراحل او تصويب شوی دی او د لوړو زده کړو وزارت ته د تاييد په موخه استول شوی، د دواړو څانګو تحصيلي نصاب ، چې په ټوله کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي تحصيلي نصاب تشکيلوي، د وخت د غوښتنو او شرايطو سره او همدارنګه د کار بازار ته په کتو سره چمتو شوی دی ، چې اوسمهال يې د پلي کېدا چارې روانې دي.

## پنځم مبحث: ستراتیژیکي موخي

**لومړۍ موخه: حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لپاره د یوې جلا ودانۍ جوړول**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د موسسې د رهبرۍ په ملتیا په پام کې لري ، چې د موسسې په نوې ودانۍ کې د نوموړي پوهنځي لپاره د تدریسي او اداري برخو په تفکیک معیاري ودانۍ جوړه کړي.

**دویمه موخه: حقوقو پوهنځي کې د ماسټرۍ پروګرام**

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په پام کې لری چې په راتلونکو کلونو کې د ټولنې د ضروریاتو مطابق د ماسترس برنامه ایجاد کړی.

**دریمه موخه: د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی لپاره د ځانګړي کتابتون ایجاد**

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی په پام کې لري چې په راتلونکو پنځه کلونو کې ځانګړي کتابتونو رامنځته کړی؛تر څو د دغې پوهنځي د استادانو او محصلینو لپاره د ټولو اړوندو کتابونو موجودیت تضمین او ددوی ستونزو ته رسیده ګی وشي.

**څلورمه موخه: دهوکړه لیکونو (تواميتونو) رامنځته کول**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی غواړي، ، چې په ملي ،سیمه ییزه او نړیواله کچه بېلا بېل هوکړه لیکونه تر سره کړي ترڅو له دې لارې اکاډمیکې اړیکې لا غښتلې شي.

**پنځمه موخه: د استادانو د دادیمی تقرر د پروسی نهایې کول**

د حقوقو او سیاسی علومو یوهنځی غواړی چې په راتلونکو پنځه کلونو کې د پوهنځی په اړونده څانګو کې د لوړو زده کړو وزارت د د غوښتنې په مطابقت د دایمی استادانو د تقرر پروسه نهایې کړی.

**شپږمه موخه: د علمي سفرونو، ورکشاپونو او سیمینارونو برابرول**

د حقوقو سیاسي علومو پوهنځی غواړي د خپلو علمي(اکاډمیکو) او اداري چارو له لارې د محصلینو، استادانو او اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړوني لپاره علمي سفرونه او سیمینارونه برابر کړي.

**اوومه موخه: استادانو ته د لا لوړو زده کړو (ماسترې او دوکتورا) د فرصتونو برابرول**

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی غواړی چې په راتلونو پنځه کلونو کې د خپلو امکاناتو په نظر کې نیولو سره د استادانو د علمي سویې د لوړوني په موخه د ماسترۍ او دوکتورا برنامو بېلابیلې زمینې برابري کړی.

### اتمه موخه: د څېړنو پراختیا او په معتبرو ملي او نړیوالو ژورنالونو کې یې خپرول

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د علمي څېړنو د پراختیا په موخه د استادانو پرمټ د ټولنې د مقتضا مطابق ترسره کوی او په ملی او معتبرو ژورنالونو کې یې خپروي او نتایج یې د اړونده برخو سره شریکوی.


### نهمه موخه: ټولنه کې ونډه

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی بېلابېلو اقتضاټو او ستونزو ته په کتو په ټولنه کې خبله ونډه یقینی کوي.

### لسمه موخه: د معاصرې تکنالوژۍ تطبیق

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي په پام کې لري چې په راتلونکو پنځه کلونو کې د پوهنځي اړوند تدریسی او اداري واحدونه په معاصره تکنالوژۍ سمبال کړي.

## د پوهنځي تشکیلاتي چارت



## دوهم فصل

## چاپیریالي عواملو مطالعه او د ستراتېژیکو پروګرامونو لومړیتوب

دي ته په کتلو سره ، چې چاپیریالي عوامل د پوهنځي پر ستراتیژۍ باندې اغیز ښندونکونو فکتورونو ټولګه ده، نو باید د چاپیریالي عواملو په تحلیل کې د موسسې اوسنی وضعیت، تخصصي وضعیت او په ټوله کې عمومي وضعه تر بررسۍ لاندې ونیول شي، او تر هغه وروسته د لوړو زده کړو وزارت د سراتېژیکې ملي برنامې لومړیتوبونو په ذکر سره معلومات بشپړ شي.

### لومړی مبحث: چاپیریالي عواملو تحلیل

پدې مبحث کې موږ د مؤسسې داخلي عوامل چې د مؤسسې په اختیار کې دي او همدارنګه خارجي عوامل چې د مؤسسې په اختیار کې ندي تحلیل کوو:

### لومړی جز: د داخلي چاپیریالي عواملو تحلیل

د داخلي چاپیریالي عواملو د تحلیل په موخه لومړی د موسسې داخلي پیاوړي ټکي او وروسته د کمزورتیا ټکي په ګوته کوو، تر څو معلومه شي ، چې د کومو کمزورو ټکو د پیاوړي کولو له لارې کولای شو سراتېژیکو موخو ته ورسېږو.

## د پیاوړتیا ټکي:

1. **حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مسلکي او غوره علمي کادرونه لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شو، چې پوهنځی دمسلکې او علمي کادرونو لرونکی دی، چې دماسترۍ او دوکتورا ترکچې پورې تحصیلي اسناد پر لاس لري.

2. **حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مجهز تدریسي چاپېریال لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی دزده کړو لپاره د یو مناسب تحصیلي چاپیریال درلودونکی دی، لکه شنه سیمه، مسجد، پارکېنګ اودازموینو اخستلو لپاره مناسب چاپیریال .

3. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو ظرفيت لوړونې لپاره کار کوي**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې پوهنځی د محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره کافي امکانات په اختيار کې لري لکه: غوره او پراخه تدريسي خونې په هر ټولګي کې LCD سکرين ، انلاين حاضري محصلينو ته په انلاين توګه د درسي موادو انتقال ...

4. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د تدريس د کيفيت لوړونې په موخه د استادانو ارزيابي او څارنه کېږي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې د کيفيت د کنټرول او علمي پياوړتيا په موخه وخت په وخت د تضمين کيفيت کمېټې له خوا استادان ارزيابي کېږي.

5. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره عملي برنامې په کار اچوي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د محصلينو د ظرفيت لوړونې په موخه مختلفې علمې او عملي برنامې لکه: تمثيلي محکمې، تمثيلي پارلمان او نور... په لاره اچوي.

6. **په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د محصلينو پر مټ څېړنه تر سره کېږي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي محصلين نه يوائې دا چې د مونوګراف پر ليکلو باندې مکلف دی، بلکې د څېړنې د ميتودولوژي په پام کې نيولو سره نورې ګټورې څېړنې هم بايد د کورس په جريان کې ترسره کړي.

7. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د بېړنو حالاتو لپاره مجهز سيستم لري.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د بېړنيو حالاتو لپاره مجهز سيستم لري.

8. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی خپل مستقل کتابتون او کمپيوټر لبې لري**

حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې پوهنځی مستقل کتابتون او کمپيوټر ليب لري.

**9. په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د صنفونو په تعداد تدریسي خونې موجودې دي**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو د معلومولو په ترځ کې دا څرګنده شوه ، چې د محصلینو شمېر ته په کتو د دورو او تناسب په رعایت په پوهنځي کې په کافي شمېر خونې شته .

**10. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د تدریس لپاره په عصري وسایلو سمبالې خونې لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو د معلومولو په ترځ کې دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی په عصري وسایلو سمبالې درسي خونې لري.

**11. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو د استراحت لپاره منظمه خونه لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د استادانو لپاره د مطالعې او استراحت مناسبه او منظمه خونه لري.

**12. په حقوقو پوهنځي کې د علمي او اداري کارکوونکو تر مینځ همغږي موجوده ده.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو د معلومولو په ترځ کې دا څرګنده شوه د پوهنځي د اداري او علمي کارکوونکو ترمنځ د همکارۍ ښه فضا حاکمه ده، ، چې له مخې یې نوموړي پوهنځي ته ښه فرصتونه په لاس راتلای شي.

**13. استادانو ته د خپل مسلک مطابق مضمون د تدریس چارې سپارل کېږي.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو د معلومولو په ترځ کې دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي ټول استادان د مسلکیتوب د اصل په رعایت مضامین تدریسوي.

**14. پوهنځي کې د محصلینو لپاره د انټرنټ اسانتیا شتون لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګندېږي ، چې نوموړي پوهنځي د محصلینو اړتیاوو ته په کتلو سره د انټرنیټ زمینه برابره کړې ده.

**15. په پوهنځي کې د محصلینو د عملي کارونو لپاره مجهز حقوقي کلینیک موجود دی.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د عملي زده کړو لپاره یو مجهز حقوقي کلینیک لري

16. **پوهنځی د سمینارونو لپاره مجهزه خونه لري**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د مجهز سیمینار خونې درلودونکی دی.

**17. د زده کړې لپاره مساعد اقلیمي شرایط شتون لري.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د داخلي چاپیریالي عواملو له تحلیل څخه دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي په چاپیریال او تدریسي خونو کې مناسب او مساعد اقلیمي شرایط برابر دي.

18. **په پوهنځي کې د سمستر غوره او فعال استاد ستايل کېږي او امتياز ورکول کېږي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي ممتاز استادان د هر سمستر په پاى کې په مادي او معنوي ډول ستايل کېږي.

19. **په پوهنځي کې د محصلينو د لارښوونې لپاره استادان د لارښود په حيث ټاکل شوي دي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي استادان د محصلينو د لارښوونې لپاره ټاکل شوي دي، ترڅو د محصلينو او ادارې ترمنځ د ارتباطي پول په توګه خپل رول ترسره کړي.

## د کمزورتيا ټکي:

1. **په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د ښځينه محصلينو کمبود شتون لري**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې پوهنځى لاتر اوسه په لوړه کچه د ښځيه محصلينو له کمبود سره مخ دى.

2. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د ښځينه استادانو کمښت شتون لري.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو د معلومولو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې له بده مرغه تر اوسه پورې په کافي اندازه ښځينه استادان نه لرو.

3. **په حقوقو پوهنځي کې د دکتورا درلودونکو استادانو د کمښت شتون لري.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه وروسته څرګنده شوه ، چې پوهنځى د دوکتورا درلودونکو استادانو له کمښت سره مخ دى.

4. **د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د استادانو کاري حجم زيات والى.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه وروسته څرګنده شوه ، چې د پوهنځي د استادانو کاري حجم ډېر زيات دى او دا د دې لامل شوى ، چې د استادانو علمي کارونه يو څه د ځنډ او ځنډ ښکار شي.

5. **د پوهنځي د اداري کارکوونکو کاري حجم زيات والى.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه وروسته څرګنده شوه ، چې د پوهنځي د اداري کارکوونکو کاري حجم هم زيات دى.

6. **په پوهنځي کې د رواني مشاور درلودل ضروري دي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د داخلي چاپيريالي عواملو له تحليل څخه وروسته څرګنده شوه، چې د پوهنځي په کچه د رواني مشاور شتون ته ډېره اړتيا ده.

## د داخلي عواملو تحلیل (IFEM)(Internal Factors Evaluation Matrix)

| | د پیاوړتیا ټکي | وزن | امتیاز | د وزن نمرې |
|---|---|---|---|---|
| | **STRENGTHS: قوتونه** | | | |
| S1 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مسلکي او با استعداده استادان لري. | 0.24 | 3 | 0.08 |
| S2 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مجهز تدریسي چاپېریال لري. | 0.15 | 3 | 0.05 |
| S3 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د محصلینو د ظرفیت لوړوني لپاره کار کوي. | 0.06 | 2 | 0.03 |
| S4 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د تدریس د کیفیت لوړوني په منظور د استادانو ارزیابي او څارنه کېږي. | 0.03 | 3 | 0.01 |
| S5 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د مصحلینو د ظرفیت لوړوني لپاره عملي برنامې په کار اچوي. | 0.24 | 3 | 0.08 |
| S6 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د محصلینو پر متې څېړنه تر سره کېږي. | 0.18 | 3 | 0.06 |
| S7 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د بېړنو حالاتو لپاره مجهز سیستم لري. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S8 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپل مستقل کتابتون او کمپیوټر لبب لري. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S9 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د صنفونو په تعداد تدریسي خونې موجودې دي. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| S10 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د تدریس لپاره په عصري وسایلو سمبالې خونې لري. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S11 | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د استادانو د استراحت لپاره منظمه خونه لري. | 0.03 | 3 | 0.01 |
| S12 | په حقوقو پوهنځي کې د علمي او اداري کار کوونکو تر مینځ همغږي موجوده ده. | 0.06 | 3 | 0.02 |
| S13 | استادانو ته د خپل مسلک مطابق مضمون د تدریس چارې سپارل کېږي. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S14 | پوهنځي کې د محصلینو لپاره د انټرنټ زمینه مساعده ده. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| S15 | په پوهنځي کې د محصلینو د عملي کارونو لپاره مجهز حقوقي کلینیک موجود دی. | 0.14 | 2 | 0.07 |
| S16 | پوهنځی د سمینارونو لپاره مجهزه خونه لري.. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S17 | د زده کړې لپاره مساعد اقلیمي شرایط مؤثر دي. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| S18 | په پوهنځي کې د سمستر غوره او فعال استاد ستایل کېږي او امتیاز ورکول کېږي. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| S19 | په پوهنځي کې د محصلینو د لارښووني لپاره استادان د لارښود په حیث ټاکل شوي دي. | 0.06 | 2 | 0.03 |
| | **کمزورتیا ټکي** | | | |
| W1 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه محصلینو کمبود شتون لري. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| W2 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه استادانو کمبود شتون لري. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| W3 | په حقوقو پوهنځي کې د دکتورا درلودونکي استادانو کمبود شتون لري. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| W4 | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو کاري حجم زیات دی. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| W5 | د پوهنځي د اداري کار کوونکو کاري حجم زیات دی. | 0.12 | 3 | 0.04 |
| W6 | په پوهنځي کې د رواني مشاور درلودل ضروري دي. | 0.08 | 2 | 0.04 |
| | مجموعه | 1.0 | | 2.75 |

## دوهم جز: د خارجي ( بهرنيو)عواملو تحليل

خارجي عوامل هغه عوامل دي چې د مؤسسې په اختيار کې ندي، د خارجي عواملو د تحليل په موخه لاژمه ده، چې فرصتونه او ننګونې په ګوته او تخليل يې کړو.

### فرصتونه

1. **د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په څانګو کې د نورو څانګو ايجاد ته ضرورت ليدل کېږي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خارجي عواملو له تحليل دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي په چوکاټ د نوي کريکولم سره سم د نويو څانګو ايجاد ته اړتيا ليدل کېږي.

2. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی له نورو اړونده ادارو سره هوکړه ليکونه لاسليک کوي**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خارجي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځي په راتلونکي کې له مختلفو ارګانونو سره د هوکړه ليکونو د لاسليکولو فرصت لري.

3. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی تفريحي پروګرامونه پر لاره اچوي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په مرسته د استادانو او د پوهنځي د محصلينو لپاره د تفريحي پروګرامونو دائرول د پوهنځي لپاره يو ښه فرصت دی.

4. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځی خپل پروګرامونه د ملکي لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو د لوايحو مطابق پر مخ وړي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خارجي عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د پوهنځي له خوا د ملکي لوړو زده کړو د قوانينو، مقرراتو او لوايحو تطبيق د پوهنځي د پرمختګ لپاره ښه فرصت برابر کړی دی .

5. **زمونږ ټولنه په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي باندې باور لري.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د بهرنيو عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د ټولنې ټول قشرونه په نوموړي پوهنځي او د پوهنځي په خدماتو باور لري.

**د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي لپاره د داخل او بهر څخه د مېلمه استادانو دعوت کول اړين دي.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د بهرنيو عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې د ځينو ځانګړو علمي او اداري پروګرامونو د تنظيم او پر مخ بيولو په موخه پوهنځی کافي امکانات او فرصتونه په اختيار کې لري.

6. **حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د استادانو لپاره بهرني يا داخلي سفر زمينه برابره کړې.**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د بهرنيو عواملو له تحليل څخه دا څرګنده شوه ، چې پوهنځی د استادانو لپاره له هېواد څخه بهر د سفرونو مساعدولو ښه فرصت په اختيار کې لري.

## فرصتونه

1. **د خلکو غربت د حقوقو پوهنځي په محصلنو اغېز ښندي.**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د بهرنیو چاپیریالي عواملو له مطالعې څخه دا څرګنده شوه ، چې په ټولنه کې د خلکو غربت پوهنځي ته د محصلینو د جذب په برخه کې لویه ننګونه ده.

2. **د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو او محصلینو پر وړاندې امنیتي ننګونې شتون لري**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د بهرنیو چاپیریالي عواملو له مطالعې څخه دا څرګنده شوه ، چې امنیتي تهدیدونه هم د پوهنځي د پرمختتګ او د سراتېژیک پلان د پلي کېدا پر وړاندې یوه ننګونه ده

3. **دعلمي رتبو نه شتون او ډېر کار له امله داستادانو تلل**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د بهرنیو چاپیریالي عواملو له مطالعې څخه دا څرګنده شوه ، چې د علمي رتبو نه شتون د ځینو استادانو د تلو او د پوهنځي د پرمختتګ پر وړاندې یوه ننګونه ده.
دخصوصي پوهنتونو استادانو ته دعلمي رتبو نه ورکول د یوې ننګونې په توګه ګڼل کېږي .

1. **د پوهنځي دکارکونکو لپاره وظیفوي تضمین نه شتون**

د پوهنځي د کار کونکو لپاره وظیفوي تضمین نه شتون ددې سبب کېږي ، ، چې په کارکونکو کې ادلون بدلون راشي نو هغه ادلون بدلون دپوهنځي لپاره یو ګواښ ګڼل کېږي .

## د بهرني چاپيريالي د عواملو تحليل(EFEM) (Enternal Factor Evaluation Matrix)


| د وزن نمري | امتياز | وزن | | |
|---|---|---|---|---|
| **OPPORTUNITIES:** | | | فرصتونه | |
| 0.12 | 3 | 0.36 | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په ډيپارتمونونو کي د نورو څانګو ايجاد ته ضرورت ليدل کيږي. | **O1** |
| 0.01 | 3 | 0.04 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی له نورو اړونده اداراتو سره هوکړه ليکونه لاسليک کوي. | **O2** |
| 0.08 | 2 | 0.17 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی تفريحي پروګرامونه پر لاره اچوي. | **O3** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی خپل پروګرامونه د ملکي لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو د لوايحو مطابق پر مخ وړي. | **O4** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي محصلين د ټولني ټول اړوند ضرورتونو رفع کولای شي. | **O5** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | زمونږ ټولنه په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي باندې باور لري. | **O6** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي لپاره د داخل او خارج څخه د ميلمه استادانو دعوت کول اړين دي. | **O7** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د استادانو لپاره کوم خارجي يا داخلي سفر زمينه مساعده کړي. | **O8** |
| **THREATS:** | | | ګواښونه | |
| 0.08 | 2 | 0.17 | په پوهنځي کي د استادانو او محصلينو تر مينځ مذهبي، قومي، نژادي او جنسيتي تعصب شتون لري. | **T1** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | د خلکو غربت د حقوقو پوهنځي په محصلينو  تاثير لري. | **T2** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادانو او محصلينو ته امنيتي تهديدات. | **T3** |
| 0.08 | 3 | 0.25 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کي د ماستری برنامي د شروع کولو ضرورت ليدل کيږي. | **T4** |
| 2.73 | | 1.0 | مجموعه | |

## دوهم مبحث: پوهنځي د ستراتېژيو ټاکنه

د دې لپاره ، چې د (QSPM) پر اساس د ستراتيژيو لومړيتوب وټاکل شي، نو د لوړو زده کړو وزارت د سراتېژيک پلان د ملي برنامې له خوا ، چې کوم موارد ټاکل شوي، په لاندې ډول يې په لنډه توګه يادونه کوو.

### د داخلي او بهرنيو عواملو پرتلنه او نهايي نمرې

### د داخلي او بهرنيو عواملو نهايي نمرې    Matrix External & Internal




1 . Grow and Build 2 3 6

2 . Hold & Maintain 1 5 9

3 . Harvest & Maintain 4 7 8

| QSPM Matrix | | | Services development | | Market penetration | | Market development | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| S/N | opportunity | weight | AS | TAS | AS | TAS | AS | TAS |
| 1 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی مسلكي او با استعداده استادان لري. | 0.12 | 3 | 0.36 | 3 | 0.36 | 3 | 0.36 |
| 2 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی مجهز تدريسي چاپېريال لري. | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| 3 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره كار كوي. | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 4 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځي كې د تدريس د كيفيت لوړونې په منظور د استادانو ارزيابي او څارنه كېږي. | 0.06 | 3 | 0.18 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| 5 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د مصحلينو د ظرفيت لوړونې لپاره عملي برنامې په كار اچوي. | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 |
| 6 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي كې د محصلينو پر مټ څېړنه تر سره كېږي. | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 7 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د بېړنو حالاتو لپاره مجهز سيستم لري. | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 8 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی خپل مستقل كتابتون او كمپيوټر لېب لري. | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| 9 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي كې د صنفونو په تعداد تدريسي خونې موجودې دي. | 0.08 | 3 | 0.24 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| **threats** | | | | 0 | | 0.00 | | 0.00 |
| 1 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي كې د ښځينه محصلينو كمبود شتون لري. | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.20 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کي د ښځينه استادانو کمبود شتون لري. | 0.04 | 3 | 0.12 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 3 | په حقوقو پوهنځي کي د دکتورا درلودونکي استادانو کمبود شتون لري. | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 |
| 4 | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د استادانو کاري حجم زيات دی. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| 5 | د پوهنځي د اداري کار کوونکو کاري حجم زيات دی. | 0.01 | 2 | 0.02 | 2 | 0.02 | 2 | 0.02 |
| 6 | په پوهنځي کي د رواني مشاور درلودل ضروري دي. | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 |
| | Strength | | | 0 | | 0.00 | | 0.00 |
| 1 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی مسلکي او با استعداده استادان لري. | 0.15 | 3 | 0.45 | 3 | 0.45 | 3 | 0.45 |
| 2 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی مجهز تدريسي چاپېريال لري. | 0.07 | 3 | 0.2 | 3 | 0.20 | 3 | 0.20 |
| 3 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره کار کوي. | 0.07 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 |
| 4 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د تدريس د کيفيت لوړونې په منظور د استادانو ارزيابي او څارنه کېږي. | 0.12 | 3 | 0.36 | 2 | 0.24 | 2 | 0.24 |
| 5 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د مصحلينو د ظرفيت لوړونې لپاره عملي برنامې په کار اچوي. | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 |
| 6 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د محصلينو پر مټ څېړنه تر سره کېږي. | 0.05 | 3 | 0.15 | 2 | 0.10 | 2 | 0.10 |
| 7 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د بېړنو حالاتو لپاره مجهز سيستم لري. | 0.07 | 3 | 0.2 | 3 | 0.20 | 3 | 0.20 |
| 8 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی خپل مستقل کتابتون او کمپيوټر لېب لري. | 0.07 | 4 | 0.27 | 2 | 0.13 | 2 | 0.13 |
| 9 | په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د صنفونو په تعداد تدريسي خونې موجودې دي. | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| 10 | حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د تدريس لپاره په عصري وسايلو سمبالې خونې لري. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | **weaknesses** | | | | | | | 0.00 |
| 1 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه محصلینو کمبود شتون لري. | 0.15 | 3 | 0.45 | 2 | 0.30 | 2 | 0.30 |
| 2 | په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه استادانو کمبود شتون لري. | 0.03 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 | 3 | 0.09 |
| 3 | په حقوقو پوهنځي کې د دکتورا درلودونکي استادانو کمبود شتون لري. | 0.03 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| 4 | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو کاري حجم زیات دی. | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| 5 | د پوهنځي د اداري کار کوونکو کاري حجم زیات دی. | 0.03 | 3 | 0.09 | 2 | 0.06 | 2 | 0.06 |
| | Total | 1.0 | | 5.30 | | 4.35 | | 4.29 |

# روش(SWOT)

| | | |
|---|---|---|
| **کمزورتیا ټکي**<br>**W1** په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه محصلینو کمبود شتون لري.<br>**W2** په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ښځینه استادانو کمبود شتون لري.<br>**W3** په حقوقو پوهنځي کې د دکتورا درلودونکي استادانو کمبود شتون لري.<br>**W4** د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو کاري حجم زیات دی.<br>**W5** د  پوهنځي د اداري کار کوونکو کاري حجم زیات دی.<br>**W6** په پوهنځي کې د رواني مشاور درلودل ضروري دي. | **پیاوړي ټکي**<br>**S1** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مسلکي او با استعداده استادان لري.<br>**S2** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی مجهز تدریسي چاپېریال لري.<br>**S3** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره کار کوي.<br>**S4** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د تدریس د کیفیت لوړونې په منظور د استادانو ارزیابي او څارنه کېږي.<br>**S5** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د مصحلینو د ظرفیت لوړونې لپاره عملي برنامې په کار اچوي.<br>**S6** په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د محصلینو پر مټ څېړنه تر سره کېږي.<br>**S7** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د بېړنو حالاتو لپاره مجهز سیستم لري.<br>**S8** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپل مستقل کتابتون او کمپیوټر لېب لري.<br>**S9** په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د صنفونو په تعداد تدریسي خونې موجودې دي.<br>**S10** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د تدریس لپاره په عصري وسایلو سمبالې خونې لري.<br>**S11** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو د استراحت لپاره منظمه خونه لري.<br>**S12** په حقوقو پوهنځي کې د علمي او اداري کار کوونکو تر مینځ همغږي موجوده ده.<br>**S13** استادانو ته د خپل مسلک مطابق مضمون د تدریس چارې سپارل کېږي.<br>**S14**  پوهنځي کې د محصلینو لپاره د انټرنټ زمینه مساعده ده.<br>**S15** په پوهنځي کې د محصلینو د عملي کارونو لپاره مجهز حقوقي کلینیک موجود دی.<br>**S16** پوهنځی د سمینارونو لپاره مجهزه خونه لري..<br>**S17** د زده کړې لپاره مساعد اقلیمي شرایط مؤثر دي.<br>**S18** په پوهنځي کې د سمستر غوره او فعال استاد ستایل کېږي او امتیاز ورکول کېږي.<br>**S19** په پوهنځي کې د محصلینو د لارښوونې لپاره استادان د لارښود په حیث ټاکل شوي دي. | داخلي عوامل/ بهرني عوامل |
| WO STRATEGIES:      محافظه کاری وظعیت<br><br>موړ دخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د **O2** په مرسته **W3,W5** حل کیږي.<br>موړدخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د **O4** په مرسته **W6** حل کیږي .<br>موړ دخپل تحلیل په ترڅ کي داپایله ترلاسه کړه چي د **O7** په مرسته **W6** حل کیږي. | SO STRATEGIES:      تهاجمی وظعیت<br><br>د **S1,S2,S3,S4,S9**  په مرسته کولاي شو له **O1** څخه استفاده وکړو.<br>د **S7,S5,S14**  په مرسته کولاي شو له **O2** څخه استفاده وکړو.<br>د**S14,S8,S3**  په مرسته کولاي شو له **O5** څخه استفاده وکړو.<br>د**S10,S5**  په مرسته کولاي شو له **O6** څخه استفاده وکړو.<br>د**S9,S5**  په مرسته کولاي شو له **O4** څخه استفاده وکړو. | فرصتونه<br>**O1** د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په ډیپارټمونونو کې د نورو څانګو ایجاد ته ضرورت لیدل کېږي.<br>**O2** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی له نورو اړونده اداراتو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کوي<br>**O3** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی تفریحي پروګرامونه پر لاره اچوي.<br>**O4** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپل پروګرامونه د ملکي لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو د لوایحو مطابق پر مخ وړي<br>**O5** د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلین د ټولنې ټول اړوند ضرورتونو رفع کولای شي.<br>**O6** د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لپاره د داخل او خارج څخه د مبلمه استادانو دعوت کول اړین دي<br>**O7** حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو لپاره کوم خارجي یا داخلي سفر زمینه مساعده کړې. |

| THREATS:ګواښونه | | WT STRATEGIES : تدافعي وضیعت |
|---|---|---|
| په پوهنځي کې د استادانو او محصلینو تر منځ مذهبي، قومي، نژادي او جنسیتي تعصب شتون لري.<br>T1<br>د خلکو غربت د حقوقو پوهنځي په محصلینو تاثیر لري.<br>T2<br>د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو او محصلینو ته امنیتي تهدیدات.<br>T3<br>په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې د ماستری برنامې د شروع کولو ضرورت لیدل کېږي.<br>T4 | موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T2 دي S6,S7 په مرسته رفع کیږي .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T5 دي S9,S10 په مرسته رفع کیږي .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T6 دي S11 په مرسته رفع کیږي .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T3 دي S9 په مرسته رفع کیږي .<br>موږ دخپل تحلیل په ترځ کي داپایله تر لاسه کړه چي T4 دي S3,S8 په مرسته رفع کیږي . | په W12 موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د T5مرسته رفع کیږي<br>په W3موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د T4مرسته رفع کیږي<br>په W12 موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د T6مرسته رفع کیږي<br>په W5 موږ دخپل تحلیل په ترځ کي ترلاسه کړه چي د T2مرسته رفع کیږي |

# دریم فصل

## سراتېژیک پلان پنځه ګونې برخې(شاخصونه)

د سراتېژیک پلان د تدوین په دې مرحله کې د لوړوزده کړو وزارت د پیشنهادي موډل سره سم پنځه ګونې برخې یا شاخصونه په لاندې ډول ذکر کوو.

### لومړی مبحث: ټکنالوژي

التقوی د لوړو زده کړو موسسې دحقوق پوهنځی د ټکنالوژۍ په برخه کې خورا مهم فعالیتونه تر سره کوي، دغه راز پوهنځی په پام کې لري ، چې د لوړو زده کړو وزارت د سراتېژیک پلان د مهمو پنځه ګونو شاخصونو څخه د یوې مهمې برخې په توګه دې ټکنالوژۍ ته خپله پاملرنه لاډېره کړي.

#### 1. د حقوقو پوهنځي استادانو لخوا د برېښنايي زده کړو د مختلفو ویډیو ګانو ثبتول.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادان د مضمون کورس پالېسی ته په پام درسي مفردات د ویډیو په شکل ثبتوي او زدکړیالانو ته یې د مختلفو ارتباطي وسائیلو له لارې په اختیار کې ورکوي. ، چې زدکړیالان کولای شي په اسانی سره د اړونده مضمون ویډیو وګوري او زده کړه ترې وکړي، د حقوق پوهنځي په دغه برخه کې د استادانو فعاله ګورپ جوړ کړی دی، که ، چېرته له کوم محصل سره د درسي مفرداتو اړوند کومه پوښتنه پیدا شي نو کولای شي ، چې په دغه ګروپ کې خپله پوښتنه مطرح کړي او د اړونده استاد له خوا ورته ځواب ورکول کېده.

#### 2. سکرین ریکارډ

دحقوقو پوهنځی د سکرین ریکارډ په برخه کې هم زدکړیالانو ته د زده کړې زمینه برابروي تر څو د زدکړیالانو استعدادونه وروزل شي او د دوی درسي بهیر له خنډ او ځنډ ښکار نه شي، په سکرین ریکارډ کې له مهمو سافټویرونو کار اخیستل کېږي ، چې اغیزمن هغه یې Bandicame دی.

### 3. ډیټابیس

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ډیټابیس له لارې هم زدکړیالانو ته د زده کړې زمینه برابر کړې ده ، چې د دې لارې څخه نوموړې پوهنځي خپلو زده کوونکو ته ګڼ پاور پاینټ(power point )درسونه برابر کړي دي. همدارنګه د تدریس په برخه کې هم د برېښنایي تکنالوژۍ څخه هم استفاده کېږي لکه پاور پاینټ په سکرین شو کول.

### 4. انلاین نوم لیکنه

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ټولو جدید شموله زدکړیالانو ته په آنلاین ډول د نوملیکنې زمینه برابره کړې، یعنی زدکړیالان کولای شي ، چې په انلاین ډول سره خپل ثبت نام وکړي.

### 5. انلانین حاضري

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادان د صنفونو حاضري هم له پرمختللې برېښنايي ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستنې سره دوامداره ډول اخلي.

### 6. د زدکړیالانو د استازو انلاین شبکه

د حقوقو پوهنځی د اړونده مضامینو درسي مفردات او نور مواد د ټکنالوژۍ له لارې صنفونو نماینده ګانوسره شریکوي ترڅو دوی ته په زده کړه کې اسانتیا رامنځته کړي.

دغه راز د برېښنایې ټکنالوژۍ له لارې حقوقو پوهنځي خپل ټول مهال ویشونه د زدکړیالانو سره شریکوي، ترڅو زده کوونکي په اسانۍ سره وتوانېږي ، چې خپل د صنف مهال ویش ترلاسه کړي.

## دویم مبحث: څېړنه

د حقوقو پوهنځي د څېړنو کمېټه په دوامداره توګه په څېړنیزه برخه کې د ټولنې اړتیاوو ته په کتلو سره او د Need Assessment پر بنسټ د محصلینو او استادانو پر مټ په مختلفو موضوع ګانو کې مختلفې څېړنې او پروژې تر سره کړې دي او عملاً یې ترسره کوي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د څېړنو کمېټې غړي خپل فعالیتونه د واضحو عملیاتي، پراختیاي، او کاري پلانونو له مخې په اغېزمن ډول مخته وړي، ، چې د څېړنو کمېټه له خپل مخکیني پلان سره سم په ۱۴۰۰ ل کال کې شپږ موضوع ګانې د څېړنې په موخه ټاکلې دي، تر څو د شپږو تنو استادانو پر مټ یې تر سره کړي، دغه راز د څېړنو کمېټې له لوري د محصلینو د مونوګرافونو د تنظیم او د موضوع ګانو د تشخیص په موخه له اړوندو څانګو څخه د موضوع ګانو لستونه هم غوښتل کېږي، دغه کمېټه په راتلونکي کې خپل پراختیاي پلان ته په پام سره غواړي نورې مهمې او ګټورې څېړنې هم ترسره کړي.

## لومړی جز: د مؤسسې په څېړنیز مرکز کې د پوهنځي غړیتوب

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د خپلو څېړنو د لاپیاوړتیا او پرمختګ لپاره یو څېړنیز مرکز جوړ کړي په کوم کې به چې د مؤسسې استاذانو او محصلانو په ګډه ډول ډول څېړنې ترسره کوي، ددې سره به د زیاتو کمپنیو، ادارو او موسساتو د پروژو د تطبیق او یا تولیداتو د جوړولو لپاره ازمویل شوي نتایج موجود وي او هم به د اداري لپاره یوه عایداتي سرچینه وي. د څېړنیز مرکز لاندې عمده فعالیتونه ترسره کوي:

1. د څېړنو په برخه کې د اړتیا وړ ساحو مشخص کول.
2. د څېړنیزو موضوعاتو انسجام او په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې د څېړنو خپرول
3. د څېړنیزې پروسې څخه نظارت
4. د څېړنو پایلو شریکول د اړونده اداراتو سره
5. د څېړنو په برخه کې د سمینارونو، ورکشاپونو او کورسونو دائیرول
6. د کال د غوره څېړنې او څېړونکې مشخص کول او تقدیرول
7. د څېړونو د اصلي او فرعي کمیټو څخه نظارت

8. د څېړنو اړوند پالیسیانو او میکانیزمونو جوړول
9. د مؤسسې ارتباط د نور تحصیلي بنسټونو، تصدیو، نورو څېړنیزو ادارو او څېړونکو سره
10. نړیوالو معتبرو ژورنالونو ته د څېړونکو د لاس رسۍ زمینه برابرول

## دوهم جز: د علمي څېړنو کمیټې

پوهنځی د څېړنو د لاپیاوړتیا او پرمختګ لپاره د پوهنځیو په کچه د علمي څېړنو کمیټه ایجاد کړې چې نوموړې کمیټه د اړونده علمي شورا ګانو لخوا د تائید شوي تشکیلاتو لرونکي دي چې عمده دندې په لاندې ډول دي:

1. د څېړنیز مرکز په همکارۍ د څېړنو اړوند علمي سمینارونو او ورکشاپونو دائیرول.
2. د څېړنیزو پروپوزلونو (د څېړنې پلانونو) د پروسې تصحیح او نظارت
3. څېړنو او د کمیټو پلانونو او راپورونوترتیب او تنظیم
4. د څېړنې د فرهنګ دود کول او دې برخې ته د استادانو او محصلانو هڅونه.
5. د څېړنیزو آثارو اومقالو مطالعه، برسي او تصحیح
6. د ټولنې د ستونزو د حل په موخه د علمي څېړونو ترسره کول او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې یې خپرول ا

## درېیم جز: څېړنیز لابراتوار

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د یو څېړنیز لابراتوار رامنځته کوي چې پدې سره به څېړنیز فعالیتونه لا ګړندي کېږي، نوموړی لابراتوار به د پنځه یایو کمپیوترونو، میزونه او چوکۍ، ځانګړی دفتر او بودیجه، او د څېړنو ځانګړی متخصص تیم لرونکی به وي چې په نوموړي څېړنیز لابراتوار کې به د پوهنځي ونډه.

## څلورم جز: علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د (التقوی علمي مجله) په نامه علمي مجلې جواز د لوړو زده کړو جلیله وزارت له لورې اخیستی چې پکې د نورو پوهنتونو، لووړو زده کړو مؤسساتو او علاقه لرونکو اشخاصو علمي څېړنو او مقالو نشر کېږي، چې د هرې مقالې یا څېړنې د نشر په مقابل کې (۲۵۰۰) افغانۍ اخیستل کېږي. په نوموړي علمي مجله کې د پوهنځي د استادانو علمي مقالې نشریږي.

## درېیم مبحث: عواید

التقوی د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د یوه تحصیلي خدماتي ارګان په توګه فعالیت لري ، چې د خپلو ټولو فعالیتونو ترسره کولو لپاره مالي امکاناتو ته اړتیا لري ، چې نوموړی پوهنځی خپل عواید د راتلوونکي پنځه کلونو لپاره د لاندې سرچینو څخه ترلاسه کوي:

## لومړی جز: د محصلینو څخه مناسب فیس اخیستل

التقوی د لوړو زوده کړو موسسه د یوه تحصیلي خدماتي ارګان په توګه فعالیت لري ، چې د خپلو ټولو فعالیتونو ترسره کولو د مالي امکاناتو د پیداکولو لپاره د محصلینو څخه یو مناسبه او معلومه انداز فیسونه اخلي.

په دی غیر یقینی اقتصادی شرایطو کی چی مونږ په کی شتون لرو او هغه تنګونی چی د ګلوبلایزیشن یا نړیوال توب سره رامنځته شوي تحصیلي موسسې باید په جدي توګه په بازار کې د پاتې کېدلو لپاره متبادلې لارې ولټوي دا ، چې اوس د التقوی د لوړو زد کړو موسسې ټول عواید د محصلینو د فیسونو له لارې چمتو کېږي، نو د محصلینو د شمېر کمښت، په مارکیټ کې د عدم سالم رقابت او انفلاسیون په نظر کې نیولو سره نوموړي عواید دومره نه وي ، چې د اکادمیکې موسسې د بقاء او تحصیلي اساتیاوو د برابرولو لپاره بسنه وکړي، له بلې خوا محصلان نشي کولای ، چې د اضافي اساتیاوو لپاره نور تادیات هم وکړي ځکه په هېواد کې غربت خپل اخري حد ته رسیدلای یواځې په ګوته شمار خلکو اقتصادي حالت لوړ دی او هغه څوک ، چې د ښه اقتصاد درلودونکي دي هغوي د هېواده بهر خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکوي. نو ددې لپاره التقوی د لوړو زده کړو موسسه غواړي ، چې خپل عوایدو له نورو سرچینو څخه د محصلان د فیس سربیره چمتو کړي.

## دوهم جز: څېړنېزې او د ارزیابی پروژې ترسره کول

د خپلو علمی او مسلکی کدرونو څخه په ګټه اخسیتنې سره د مختلفو اداراتو او کمپنیو لپاره علمی او تحقیقی څېړنې ترسره کول، زیات شمېر اداری د خپلو کارونو د ارزیابي کولو او د راتلونکو پروژو د عملی کولو لپاره غواړي په هماغه برخه کې څېړنې وکړي تر څو پروژو د پلي کولو لپاره مناسب پلان ترتیب او د شوي څېړنې په رڼا کې يې عملي کړي، همدارنګه یو شمېر اداري د خپلو ترسره پروژو ارزیابي کوي ترڅو معلومه کړي ، چې پروژه يې د ډونر د غوښتنې او پلان له مخې تطبیق شوی او ورکړل شوی هدف ترلاسه شوی که نه؟

څرنګه چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ډېرو با تجربه او مسلکي استاذانو لرونکي ده نو کولای شي ، چې پورته ذکر شوو برخو کې څېړنې وکړي، نو ددې لارې به نوموړی پوهنځی وکولای شي تر څو خپل عواید لوړ او د موسسی په لا پرختګ کی ترې ګټه پورته کړي.

## دریم جز: لنډمهاله روزنیز کورسونو جوړول

په نني رقابتي نړۍ کې ضروري ده چې د خپلې مسلکي ساحې د پرمختګ په هکله فکر وشي، د لنډو علمي او مسلکي کورسونو تعقیبول کولای شي له هر چا سره مرسته وکړي ترڅو په خپله مسلکی ساحه کې لا پرمختګ وکړو او خپلې وړتیاوې لا غښتلي کړو.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په پام کې لري ، چې په مختلفو برخو کې لنډمهاله علمي او مسلکي کورسونه په لاره واچوي ترڅو له یو طرفه د زیات شمېر مینوالو تنده خړوبه کړي او له بل خوا د پوهنځي لپاره د بوې عایداتي منبع په توګه ترې کار واخلي او د پوهنځي د لاپیاوړي کولو او بنسټیزو پروګرامونو پرمخ وړلو کې ترې ګټه پورته کړي.

## څلورم جز: سروې پروژې

زیات شمېر دولتی او غیر دولتی اداري سروې د ټولنیزو څېړنو جمعیت پېژندنې او نورو برخو کې د پوهې د زیاتولو لپاره کوی. د سروې څېړنې اکثراً د نظرونو، عامه فکرونو او احساساتو د ارزولو لپاره کارول کېږي، دا چی یادی اداری په نوموړی برخه مسلکی غړي نلري نو بیا اړ وي ، چې د یوې بلې ادارې پر مټ دغه سروې ترسره کړي، نو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو علمي او مسلکي کدرونو څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شي دا چوپړتیاوې وړاندې کړي او د یوې عایداتی سرچینی په توګه ترې ګټه واخلي.

## پنځم جز: د بېلابېلو تریننګونو چوپړتیاوې وړاندې کول

په دې کې لنډ کورسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه او کنفرانسونه شامل دي. دغه برخه اکثراً د دوامداره علمي او مسلکي پرمختیایي واحدونو له لارې اداره کېږي. عامه او خصوصي سکټورونه او موسسات اکثرا په ځانګړو سیمو کې د خپلو کارکوونکو لپاره مسلکي پرمختګ ته اړتیا لري؛ پوهنتونونه کولی شي دې اړتیا ته ځواب ووایي او له دې لارې اضافي عایدات تولید کړي. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی چی په مختلفو برخو کی وړ او مسلکي کدرونه لري کولای شي ، چې په یاده برخه په وخت او غوره چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## شپږم جز: د خرڅلاو لپاره د کېورو کتابونو لیکل او ژباړه

څرنګه ، چې مخکې هم یادونه شوې ، چې پوهنځی د ډېرو لوړو علمي کدرونو لرونکی دی، نو نوموړی علمي کدرنه په خپلو اړونده برخو هر کال تدریسي کتابونه تألیف او یا یې ژباړي، د درسي کتابونو بازار د درملو د بازار په څېر دی لکه څرنګه چی ډاکتران مریضانو ته درمل تجویز کوي او مریضان اړ دي چی یاد

درمل وپېري همدارنگه د پوهنتون استادان هم خپلو محصلینو ته ډول ډول کتابونو هغه که پخپله د نوموړي موسسې استادانو لیکلي وي او یا د نورو استادانو لخوا لیکل شوي وي د پېر او مطالعی لپاره سپارښتنه کوي تر څو د محصلینو معلومات زیات او پوره پوهه ترلاسه کړي.

د استاذانو دغه لیکل شوي اثار که د التقوی د لوړو زده کړو موسسې له لارې محصلینو ته عرضه شي هم به ورته لاسرسی اسانه وي او هم به موسسې لپاره یوه عایداتي سرچینه وگرځي، یعنی څومره ، چې محصلین نوموړی کتابونه پېري په هماغه اندازه به د موسسې عایدات لوړیږي.

## اووم جز: د ملاتړ کونکو څخه د مرستو جلب په مختلفو برخو کې

زیات شمېر دونران یا بسپنه ورکونکي اداري غواړي د افغانانو سره د لوړو زده کړو اومسلکي زده کړو د فرصتونو برارولو کې مرسته وکړي تر څو دوی په هغه پوهه او مهارتونو ، چې دوی ورته اړتیا لري سمبال کړي. یعنی پدې معنی ، چې د کاري ځواک سره مرسته کوي.

ځرنگه ، چې د التقوی د لوړو زده کړو موسسه اوس هم یو قرارداد په یاده برخه کې لري، نو کوشش به وکړو ، چې د نورو ډونرانو سره هم خپلې اړیکې پیاوړي کړو او په هغه شکل اسانتیاوې برابرې کړو ، چې دوی بې غواړي ترڅو وکولای شو لا زیات ډونران جلب او وهڅوو تر څو بادې موسسې ته لا زیات تعلیمی فنډونه ورکړي او له دې لارې دخپل عایدات د نوو سرچینو څخه ترلاسه کړو.

## اتم جز: د مشوره ورکولو خدماتو وړاندې کول

مشوره ورکول یو له هغو مهمو وسیلو څخه دی د کوم پر مټ چی د پوهنځي استاذان او محصلان کولای شي خپلې علمي پوهې، مهارتونه او تجربې د موسسې څخه بهر د نورو ادارو سره شریک کړي، لکه: د حکومتی ادارو، عامه سکتور ادارو، ټولنیزو ډلو او سوداگری برخو کی.

مشورتي خدمتونه د پوهنتون اکادمیکه مشورتي څانگه ده او د التقوی د لوړو زده کړو موسسی د نوښت یوه برخه به شي. موږ د التقوی د لوړو زده کړو د موسسې څو اړخېز څېړنیز مرکز چمتو کوو ترڅو ډېرې هغو ستونزو او ننگونو ته ځواب ووایو چی مختلفې اداري او سازمانونه ورسره نن مخ دي او له دې لارې وکولای شو د تحصیلي موسسې د عایداتو په لوړولو کی رغنده رول ولوبوو

## څلورم مبحث: نړیوالې اړیکې

لکه څرنگه چې نن ورځ د معاصرو علومو او ټکنالوژۍ په رامنځته کېدو سره نړی د یوه کلي په توگه پیژندل شوي، نو موږ د ملي اړیکو ترڅنگ نړیوالو اړیکو او فعالیتونو ته هم اړتیا لرو چې د نړی د معتبرو تحصیلي بنسټونو سره روابطو ټینگ کړو ترڅو د هغوی د تجاربو، پرمختگونو، امکاناتو او داسې نورو څخه استفاده

وکړو او خپلې تجربې او امکانات له هغوی سره شریک کړو، التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې په راتلونکي کې لاندې نړیوال فعالیتونه ترسره کړي:

## لومړی جز: توامیتونو رامنځته کول

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د توامیتونو او هوکړه لیکونو د حفظ او پراختیا لپاره لاندې اقدامات ترسره کوي:

- التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه د نړیوالو اړیکو پراختیا او د توامیتونو د ایجاد او انکشاف لپاره د بهرنیو اړیکو کمېټه ایجاد کړی چې په رأس کې يې د مؤسسې رئیس قرار لري.
- د مؤسسې رئیس د توامیتونو د رامنځته کېدو په برخه کې ټول امکانات او فرصتونه له منسوبینو سره شریک کوي تر څو په ګډه د یو واحد تصمیم په اساس توامیتونو رامنځته شي.
- د مؤسسې رئیس د توامیتونو د اغیزمنتوب تر څنګ له ایجاباتو او شرایطو سره سم د توامیتونو له تطبیق څخه د نظارت مسؤلیت هم پر غاړه لري.

## دوهم جز: په نړیوالو سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون

التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه دې ته ژمنه ده چې د خپلو علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو د ظرفیت لوړنې لپاره هغوی حضوري او انلاین سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو ته معرفي کړي ترڅو د نړیوالو تجاربو څخه برخمن شي.

## دریم جز: د بهرنیو علمي کادرونو څخه استفاده

مؤسسه په راتلونکي کې پدې اړوند کار کوي ترڅو وکولای شي چې په انلاین شکل د نړۍ یا سیمې هیوادونو علمي کادر غړو څخه په مختلفو برخو کې لکه تدریس، ظرفیت لوړونې او څېړنې په برخه کې استفاده وکړي. التقوی دلوړو زده کړو موسسه په مختلفو برخو کې د سیمې د هېوادونو سره اړیکې لري ، چې په دې برخه کې ګڼ هوکړه لیکونه هم لاسلیک شوي دي، مګر د حقوقواوسیاسي علومو پوهنځی په مستقل شکل د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره تر اوسه پورې اړیکې نه لري. د دې لپاره ، چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپلو زدکړیالانو ته ښه فرصتونه برابر کړي او لاوځلېږي ،په راتلونکي کې هیله لرو د سیمې او نړۍ له ځینو معتبرو پوهنتونو سره په لاندې برخو کې روابط ولرو:

1. د سیمې هېوادونو له پوهنتونونو سره په جنایي برخه کې د زدکړیالانو لپاره د سیمنارونو برابرول.
2. د نړۍ له ګڼو پوهنتونو سره د همکاریو توامیتونه لاسلیکول.
3. په نړیوالو ژورنالونو کې د علمي کادر غړو له د آثارو او مقالو د خپرولو له لارې د اړیکو رامنځته کول.
4. استادانو ته د علمي سیرونو د برابرولو له لارې ، چې د سیمې او نړۍ له پوهنتونونو سره د اړیکو رامنځته کول
5. د سپورت په برخه کې محصلینوته زمینه برابر کول ترڅو له هېواد څخه بهر د سیمې له لوبډلو سره لوبې وکړی.

## څلورم مبحث: په پوهنتون کې ونډه

ټول تحصیلي نهادونه چې تحصیلي خدمات وړاندې کوي د پوهنتون د پرمختګ لپاره دي که هغه تدریس وي، که څېړنه وي، که د ظرفیت لوړونې پروګرامونه وي، که تحصیلي نصاب او یا هم نور فعالیتونه وي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د پوهنتون په مهمو مسایلو او ستونزو د حل لپاره څېړنې وړاندې کوي او علمي مقالې نشروي، ددې ترڅنګ په پوهنتون کې د کار د بازار په مقتضی تحصیلي نصاب کې وخت په وخت تعدیلات راولي او د پوهنتون د پرمختګ لپاره ځینې نور اړین فعالیتونه ترسره کوي. لکه: دعوت او ارشاد، د ظرفیت لوړونې او عامه پوهاوی سیمینارونه، ورکشاپونه، کانفرانسونه، په رسنیزو بحثونو کې ګډون، سپورټي او فرهنګي برنامې، د تاریخي او ملي ورځو لمانځنه، خیریه فعالیتونه او داسې نورو برخو کې فعاله ونډه لري.

### لومړی جز: فرهنګي برنامې

دا چې د فرهنګي فعالیتونه له یوې خوا د محصلانو علمي سويې او جرئت په لوړولو کې هم رول لري بله بلې خوا محصلان کولای شي چې د هیواد ملي او ديني ورځو، تاريخ، مشهورو اشخاص، فرهنګ، دود، او داسې نورو په اړوند معلوماتو ترلاسه کوي، نو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د فرهنګي چارو پرمخ وړلو لپاره د پوهنځی په کچه فرهنګي کمیټه لري چې په تشکیل کې یې د د پوهنځی د علمي کادر غړي، محصلان او د نشراتو مدیریت څخه یوتن غړیتوب لري چې مختلف فرهنګي فعالیتونه ترسره کوي، مؤسسه ددې چارو د لا انکشاف لپاره غواړي چې د پوهنځیو په کچه هم یادې کمیټې ایجاد کړي ترڅو فرهنګي فعالیتونه په ښه شکل باندې مخ ته لاړ شي.

### دوهم جز: سپورټي برنامې

دا چې له یوې خوا ورزش د صحت ضامن دی او له بلې خوا د محصلانو په روح و روان باندې مثبت تأثیرات لري نو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هم د کرکټ او والیبال فعال ټیمونه لري چې هر کال خپل منځي ټورنمنټونه ترسره کوي او ددې ترڅنګ بیروني لوبو او ټورنمنټونو کې هم ونډه اخلي، مؤسسه دې ته ژمنه ده چې په راتلوونکي کې دې برخې ته نور هم انکشاف ورکړي.

### دریم جز: د فساد، اعتیاد، تاؤتریخوالي او تعصباتو سره مبارزه:

هر نوعه فساد (اداري، مالي، اخلاقي) ، اعتیاد ، تاؤتریخوالی او تعصبات هغه څه دي چې پوهنتون مادي او معنوي ارزښتونه له منځه وړي پس التقوی د لوړو زده کړو مؤسسی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ددې بدمرغیو په خلاف مبارزه خپل مسؤلیت ګڼي، مؤسسې د پورته بدمرغیو د مخنیوي او عاملینو سره د قانوني چلند په موخه کمیټې ایجاد کړي تر عاملینو یې تر پوښتونو او ګرویګنو لاندې راولي او د تخلف د تشخیص په صورت کې متخلفینو باندې مختلې مؤیدې چې قوانینو او مقرراتو ذکر کړي

تطبيق کړي. ددې لپاره چې دغه بدمرغي نور هم محار شوي وي مؤسسه ژمنه ده چې په راتلوونکي کې مختلفې د عامه پوهاوې برنامې په لاره واچوي.

## څلورم جز: په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پزیره خلکو لاس نیوی

التقوی د لوړوزده کړو مؤسسې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی دې ته ژمنه ده چې په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پزیره خلکو لاس نوی وکړي، لکه:

1. د لوړو زده کړو ته د بې بضاعته خلکو د لاس رسي په موخه په عام ډول مناسب فیس، د ټولنې ځینو ځانګړو اقشارو لکه معیوبینو ځینو اناثو ته وړیا سکالرشیپونه او داسې نور.
2. په ځانګړو ورځو لکه د روژې مبارکه میاشت، اخترونه او داسې نورو کې د ټولنې بې بضاعته اشخاصو سره مالي مرستې.
3. د ټولنې د طبعي افاتو ځپلو، جنګ ځپلو، بې ځایه شویو او داسې نورو اقشارو سره مالي او معنوي مرستي.
4. د ټولنې په خیریه کارونو کې ونډه اخیستل.

## پنځم جز: په رسنیزو بحثونو کې برخه اخیستل

التقوی د لوړو زده مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي علمي کادر غړي او محصلان د دیني، سیاسي، حقوقي، ټولنیزو او داسې نورو برنامو کې د نظر د څرګندولو او د ټولنې د خلکو اګاه کولو په موخه وخت په وخت ګډون کوي او په نوموړو موضوعاتو علمي بحث کوي ترڅو راولاړې شوي ستونزې حل شي.
التقوی د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په ټولنه کې د ونډې له لارې د ټولنې په پرمختګ کې خپل رول یقیني کوي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ونډه په ټولنه کې د لاندې مواردو په شتون کې متحقق کېدای شي.

1. ټولنې ته د لوړ او وړ کېفیت لرونکو بشري ظرفیتونو وړاندې کول.
2. ملي او نړېوالو ارزښتونو ته د ژمن بشري ظرفیتونو وړاندې کول.
3. ټولنې او خلکو ته د صادقو، په وطن مئینو، د خدمت هیله مند کادرونو معرفي کول.
4. د کار او مارکیټ په نظر کې نیولو سره د بشري ظرفیتونو روزل.
5. دټولنې په خیریه عامه مسایلو کې برخه اخیستل لکه : عامه پوهاوی، کرونا ځپلو سره مرسته
   - په ټولنه کې دقانون د حاکمیت په اړه خلکوته پوهاوی ورکول .
   - په ټولنه کې قانون ته دخلکو اړتیا ، دقانون دارمنځته کېدو ګټې.
   - ټولنه کې دقانون څخه دسرغړاوي اودنه تطبیق زیانونه،او قانوني مجازات.
   - په ټولنه کې دتعلیم او تعلم ترویج ، اهمیت ارزښت خلکو ته ښودل .
6. عام المنفعه ، خیریه فعالیتونه.

- د پوهنتون دمجربو استادانو له تجربو څخه په ګټه اخیستنه د ټولنی په اړتیاو ( صحی ، ټولنیز عدالت مساوات ، دظلم مخنیوی ، ټولنیز تکافل ، او ناوړه رواجونو له منځه وړل ، او غیر مترقبه حالاتو کې استفاده کول ...

# څلورم فصل

## د لوړو زده کړو جلیله وزارت سراتېژیک لومړیتوبونه

. د لوړو زده کړو وزارت د ملي سراتېژیک پلان لومړیتوبونه د افغانستان اسلامي امارت د لومړیتوبونو پر اساس ټاکل شوي، تر څو د پوهنتونونو او پوهنځیو په کچه په سراتېژیکو پلانونو کې درج او تدوین شي، نو التقوی د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د سراتېژیک پلان لومړیتوبونه په لاندې ډول ذکر کوو.

## لومړی مبحث: حکومتولي

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په سرکې د پوهنځي رییس، مرستیال او د څانگو آمرین قرار لري، د دې ترڅنگ د پوهنځي په چوکاټ کې د چارو د ښه پرمخ بیولو لپاره بېلابېلې کمېټې فعالې دي، چې د هرې کمېټې په سر کې یو مشر او ورسره په محدود شمېر غړي اړوندې چارې ترسره کوي، د پوهنځي د حکومتولۍ اړوند موارد په لاندې ډول ذکر کوو.

### لومړ جز: د رهبرۍ پروګرامونه

د سراتېژیک پلان له تدوین وروسته به د پوهنځي د رهبرۍ برنامه بدلېږي، د پوهنځي د رییس، د پوهنځي مرستیال او د څانگو(څانگو ) امرینو ټاکنه (انتصاب) به د خصوصي لوړو زده کړو موسسو د مقررې په رعایت د ځانګړي طرزالعمل پر بنسټ ترسره کېږي څوک ، چې د پوهنځي رهبرۍ ته انتصابېږي، باید لاندې غوښتنې په مشخصه توګه عملي کړای شي.

1. د اړتیاوو درک کول او د لاسته راوړلو په موخه یې ستونزو او ننگونو ته رسېدنه.
2. فساد ، کاري ګډوډۍ، تعصب او بې عدالتۍ پر وړاندې مبارزه.
3. د داخلي او خارجي ملاتړکوونکو(ډونرانو) پر وړاندې له پوهنځي څخه په اغېزناکه توګه استازولي کول.
4. له پراختیاي همکارانو، ډونرانو، تمویلونکو او ښکېلو ادارو سره د ښو اړیکو رامنځته کول.
5. د محصلینو، استادانو، کارکونکو او مراجعینو شکایتونو ته رسېدنه.
6. ټولو ښکېلو منسوبینو ته د نوښت، مسؤلیت منلو او په خپل وخت کار کولو په موخه د انگېزې ورکړه.

## دوهم جز: اکاډمیکه، مالي او اداري استقلالیت

پوهنځی باید په چارو کې د عدم تمرکز پر سیاست اتکا وکړي او هم ځینې مشخصې کړنلارې عملي کړي،لکه د پوهنځی له خوا د خپلو صلاحیتونه تفویض د څانګو په کچه د بودیجې برابرول، د عوایدو رامنځته کولو، د هوکړه لیکونو لاسلیکولو او د بودیجې د مصرف په برخه کې مالي، اداري او اکاډمیکه خپلواکي

د مالي استقلالیت اغېزه د پرمختګ، خلاقیت، نوښت او د څېړنېزې زده کړې پراختیا په برخه کې محسوسه او ملموسه ده، د پوهنځي د استقلالیت کنترول او مدیریت د موسسې له خوا د پوهنځي استقلالیت بې روحه کوي، د همدې موخې لپاره د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د یوې ځانګړې تګلارې له مخې استقلالیت عملي کوي.

1. پوهنځی مکلف دی د علمي، مسلکي او څېړنیزو خدمتونو وړاندې کولو لپاره لګښتونه او مالي وجوه د مالي اصولو مطابق اټکل او د منظورۍ لپاره یې د پوهنځي امنا هیئت ته وړاندې کړي، نوموړي لګښتونه د پوهنځي د امنا هیئت پواسطه څارل کېږي او نوموړی هئیت له خپلو کړنو مسولیت لري.
2. پوهنځی باید د مالي چارو لپاره لازم تشکیلات رامنځته کړي.
3. پوهنځی باید د خریدارۍ، ټرانسپورټ او د اسنادو د برابرولو چارې ګړندۍ کړي.
4. پوهنځي لپاره باید لازمه وجه د لاسرسی په موخه تخصیص شي.
5. پوهنځی باید ملي او بین المللي مساعدتونه جذب کړي
6. مالي مدیریت ته باید یو شفاف میکانیزم رامنځته شي.

## درېیم جز: له فساد سره مبارزه

پوهنځی د نوي پلان په تطبیق کې د اخلاقو عاملو او له فساد سره د مبارزې په موخه په ټولو سطوحو کې خپل رول ترسره کوي، ترڅو اکاډمیک ارزښتونه او اداري اصول د استادانو او اداري کارکوونکو ترمنځ پلي شي، په مشخصه توګه باید په لاندې برخو کې له فساد سره مبارزه وشي.

1. د استادانو د تقرر په برخه کې.
2. د مضامینو دوېش په برخه کې.
3. زده کړیزو امکاناتو ته د لاسرسي او وېش په برخه کې.
4. د ظرفیت لوړوني برنامو او بورسیو څخه د استفادې په برخه کې.
5. د محصلینو ارزونه او ازموینو اخیستلو په برخه کې.
6. خریدارۍ او تدارکاتو برخه کې.

7. هڅوني او تاديب په برخه کې.
8. د اضافه کارۍ په برخه کې.
9. د حاضرۍ کنټرول په برخه کې.
10. د ازموينو په تنايجو کې د نمرو خونديتوب او نه لاسوهنې برخه کې.
11. تقلب، حق تلفۍ او تعصب ته د لاسرسي په برخه کې.
12. د ملاتړ کونکو (ډونرانو) د مرستو او هوکړه ليکونو څخه د استفادې په برخه کې.

## څلورم جز: اداري بيروکراسي

په نړيواله کچه په ادارو کې بېروکراسي د چارو د ښه سمبالښت په برخه کې يو منل شوی اصل ګڼل کېږي، چې اداري يو لړ مهم اسناد د شواهدو په توګه له ځانه سره په دوامداره توګه وساتي، بيا په ځينو ماردو کې منفي بيروکراسي چارې له خنډ او ځند سره مخ کوي لکه: د وخت ضايع، د چارو نه ترسره کېدل، فساد او د مصارفو زياتوالی. پر همدې اساس، پوهنځی تل هڅه کوي ، چې د چارو د چټکتيا ، روڼوالي او موثريت په موخه د منفي بېروکراسۍ د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د معلوماتی ټکنالوژۍ پر مټ د اداري چارو پر مخ وړل
2. د پوهنتون د اداري او اړونده پوهنځيو سره د معلوماتي تکنالوژۍ پر مټ د اړيکو تامينول.
3. په اداري پروسو کې د غير ضروري پړاوونو لنډول او له منځه وړل .
4. د اداري کړنو د روڼتيا په موخه د کمپيوټري پروګرامونو په ځانګړي توګه د ډيتابيس پروګرام رامنځته کول .
5. د قوانينو، مقررو، لوايحو او طرزالعملونو له مخې ګمارنې او د ندو سپارل.

## پنځم جز: د هوکړه ليکونو او نړيوالو اړيکو رامنځته کول

علمي او عملي توامېتونه د تجربو شريکولو، ظرفيتونو لوړولو او مرستو په جلب کې د پوهنتونونو سره ډېره مرسته کولی شي، نو څکه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی بايد د پلان د تطبيق پر مهال له ګنو پوهنتونونو او علمي ــ څېړنيزو ارګانونو سره په ملي او نړيواله کچه هوکړه ليکونه رامنځته کړي او له دې لارې لارې نړيوالې اړيکې غښتلې کړي، يعنی که څه هم د موسسې په کچه ګڼ هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي ولې له بده مرغه تر اوسه پورې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی په خپلواکه توګه د هوکړه ليکونو په لاسليکلولو او نړيوالو اړيکو جوړولو کې ښکيل نه دی، نو د دې لپاره ، چې په راتلونکي کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی په دې برخه کې خپل رول يقيني کړي بايد لاندې چارو ته پاملرنه ډېره شي.

1. د پوهنځي په کچه د بهرنيو اړيکو او مرستو جذب د کمېټې ايجاد.
2. د حقوقو پوهنځي له خوا د شته هوکړه ليکونو د مؤثريت څېړل.

3. د حقوقو پوهنځي له خوا د نويو هوکړه ليکونو د اړتيا سنجول.
4. د هوکړه ليکونو د رامنځته کېدو په برخه کې د پوهنځي د کمېټې او مرکزي کمېټې ترمنځ هماهنګي او مساعدت.

## شپږم جز: د مرستو جذب

په راتلونکو پنځو کلونو کې د مرستو جلب او جذب بايد د پوهنځي د فعاليتونو په سر کې قرار ولري، ځکه ، چې التقوی لوړو زده کړو موسسه او په ځانګړې توګه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د ملي او نړيوالو مرستو د جذب په موخه په يوه مناسبه او ښه سطحه کې قرار لري، ولې په اوسني حالت کې د مرستو د جلب او جذب مديريتي قوي ظرفيت لوړوني ته تر هر څه ډېره اړتيا ده، نو د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی به نه يوازې دا ، چې د مديريتي قوي د ظرفيت لوړوني په برخه کې خپل رغنده رول لوبوي، نوموړی پوهنځی به هڅه کوي ، چې د تدريس د معياري کولو(ظرفيت لوړولو) او د علمي څېړنو د کيفيت لوړولو په موخه د مرستو جلب ته لازم جذابيت رامنځته کړي.

1. له اړونده ملي او نړيوالو ادارو سره هوکړه ليکونو لاسليکول او حد اکثر ګټه ترې پورته کول.
2. د موسسې له خوا د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ته د مرستو د جلب صلاحيت ورکول، ترڅو پوهنځی د خپلو پروژو لپاره پروپوزل جوړ کړي او ډونران هم ورته پيدا کړي.
3. په اړونده برخه کې د پلانونو او پالېسيو ترتيب او برابرول.
4. د ترسره شوو هوکړه ليکونو او اړيکو څخه د موسسې او پوهنځي په هر اړخيز پرمختګ کې غوره ګټه پورته کول.
5. په ملي او نړيواله کچه له پوهنتونونو سره په عملي چارو د همغږيو او فرصتونو زمينې برابرول.
6. د پوهنځي د فزيکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقيقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو جلبول.

## اووم جز: د جنډر مسايل

د ټولنيز ژوند د پرمختګ او ټولنې هر اړخيزې ودې لپاره داسلامی اصولو سره سم له نارينه او ښځينه پرته له کوم تبعيض او توپير څخه په ګډه د اړوندو چارو په ترسره کولو کې فعاله ونډه اخلي. دا ، چې افغانستان د څو لسيزو داخلي جګړو او ورانيو له کبله په بېلابېلو برخو کې ويجاړ او وروسته پاتې شوی ، چې له امله يې د ښځو ونډه د سړيو پرتله کمه شوېده. لازمه ده ، چې ښځې هم داسلامی نظام مطابق د سړيو په څېر په ټولو اداري او مسلکي کړنو کې د امکان تر بريده په فعاله توګه ونډه واخلي، څو د بشري قوې شته تشه ډکه او چارې په معياري شکل ترسره شي او هم ښځې له خپلو حقوقو برخمنې شي. پوهنځی د

علمي بنسټ په توګه په پلان کې لري، ، چې د نارينه وو تر څنګ ښځو ته هم په علمي او اکاډميکو برخو کې ونډه ورکړي، ، چې پدې برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په علمي او تحصيلي پروګرامونو کې د نارينه محصيلينو ترڅنګ د ښځينه محصلينو شمېر زياتوالي ته پوره پاملرنه .
2. د لوړو زده کړو ترلاسه کولو په موخه ښځينه محصيلينو د تشويق لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونو پيلول.
3. د بشري ځواک د ګمارنې په برخه کې ښځينه کادرونو ته د امکان تر بريده پاملرنه.
4. د نظري زده کړو تر څنګ ښځينه محصلينو ته د عملي زده کړو پراختيا .
5. ښځينه محصيلينو ته د تفريح ځايونو رغول او د بېلابېلو سهولتونو برابرول.
6. د انټرنشيپ پروګرامونو ته د ښځينه محصلينو معرفي کول.
7. د کارموندنې په برخه کې د ښځينه محصلينو سره مرسته.

## دوهم مبحث: علمي او اکاډميک پروګرامونه

د پوهنتونونو، پوهنځيو او علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس  التقوی لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي اداره په پام کې لري ، چې د يو با کيفيته او پرمختللي پوهنځي په توګه بېلابېل ټولنيز او څېړنيز پروګرامونه پر مخ يوسي ، چې له امله يې په هېواد او نړۍ کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه لرلی وي. په دې لړ کې پوهنځی د علمي او اکاډميکو پروګرامونو د پياوړتيا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د تخصصي او مسلکي برخو د پرمختګ په موخه نويو علمي پروګرامونو ايجادول، لکه: ماسټرۍ پروګرامونه.
2. د بورسيو لاسته راوړل.
3. د څېړنې معياري کول.
4. د ښوونيزو ورکشاپونو او ټريننګونو جوړول.
5. سمپوزيمونو او نندارتونونو ته پراختيا ورکول.
6. د معالوماتي ټکنالوژۍ سرچينې تشخيص او کارول .
7. وېب پاڼې نوي کول.
8. د نويو علمي او څېړنيزو مجلو او ژورنالونو تاسيسول.
9. علمي نصاب د مارکيټ او بازار غوښتنو سره برابرول.

10. د کتابتونونو معیاري کول.
11. د علمي تجربو د شریکولو په موخه له نورو پوهنتونونو څخه د استادانو ( Visiting Professors ) رابلل .
12. د علمي سیرونو پراختیا .

## لومړی جز: په علمي کادر کې ور او مسلکي استادانو زیاتول

دا ، چې د حقوقو پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولنې او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي ، چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1. د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول ، چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
2. د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پېاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل.
3. په تقرر کې وړ دوکتور او ماستر تشخیصول او لومړیتوب ورکول.
4. په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول.
5. د پوهنځي د لوړې سویې او لایقو استادانو او غړو ساتنه او وړتیاوو یې پوره ګټه اخستل.
6. د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول.
7. د زده کړیالانو او استادانو لپاره د علمي سفرونو او تبادلې د زمینې برابرول.

## دوهم جز: د کادر غړو ظرفیت لوړول

د پوهنتونونو، پوهنځیو او علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي. پر همدې اساس، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي اداره د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري ، چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د ک، چې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. د شتو مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنتون او پوهنځي په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې ګټه پورته کول.

3. د پوهنځي کارکونکو ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ترېننګونو فرصتونونو برابرول.
4. د پوهنځي د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
5. په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نوي ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
6. د سراتېژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري کارکونکو روزل.
7. د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او ودې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول.
8. تدریسي غړو ته د انګریزي او نورو بهرنیو ژبو د روزنې اسانتیا برابرول.
9. پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي، څېړنیزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتیاوو برابرول.

## دریيم جز: علمي څېړنې

په نړیواله کچه څېړنې او د څېړنو په پار پلان جوړونه د پوهنتونونو او پوهنځیو د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه او د ټولنې وګړي د ستونزو حل او پرمختګونو رامنځته کولو په غرض علمي څېړنې ترسره کوي. د څېړنو پواسطه پوهنتونونه په خپلو صادراتو او عوایدو کې زیاتوالی راولي، ، چې په نتیجه کې یې هم ټولنه له ستونزو خلاصېږي او هم له نورې نړۍ سره د سیالۍ جوګه کېږي. بناً التقوی د لوړو زدکړو موسسه د اقتصاد پوهنځي اداره هم په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی ، چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او پراختیا لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د پوهنځي او ځانګو په کچه د څېړنو یو موثر مېکانېزم رامنځته کول
2. د څېړنیزو کړنو او پروژو د ترسره کولو له پاره د بودېجې او امکاناتو برابرول
3. دنړیوالو پوهنتونونو سره اړیکو ټینګول او دڅېړنیزو پروګرامونو پرمخ بیولو له پاره د مرستو جلبول.
4. د څېړنیزو پروژو د پایلو او لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره یې شریکول.
5. دا ، چې د حقوقو پوهنځی د څېړنې د امتیاز ښتن دی او په هره برخه کې دمتخصیصینو او څېړونکو لرونکی دی، نو د هر ډول پلټنې او څېړنې په برخه کې د غوره مېکانیزم له لارې د څېړنو له پاره د یو تحقیقاتي مرکز رامنځته کول او پیاوړې کول.
6. د څېړنې په برخه کې د علمي، اداري کارکونکو او محصیلینو روزل.
7. د څېړنیزو پروګرامونو ترسره کولو له پاره استادان بهرنیو هېوادونو ته استول ، چې دعلمي، څېړنیزو او نظري کارونو ترسره کولو وړتیا ترلاسه او له غوره پایلو سره هېواد ته راستانه شي.

## شلورم جز: فوق لېسانس پروګرامونو رامنځته کول او پراختیا

د هېوادونو او ټولنو د پرمختګ او وروسته پاتې والي لامل د اړوند هېواد د وګړو د پوهې او علمیت د ک، چې سره تړاو لري. د کومو هېوادونو پوهنتونونه ، چې خپلو وګړو ته د علمي او مسلکي زده کړو لپاره لېسانس او فوق لېسانس فعاله پروګرامونه لري هېوادونو یې په هر اړخیزه توګه پرمختګ او وده کړې ده او وګړو ته یې د هوسا ژوند کولو اسانتیاوې او زمینه برابره کړې. همدا علمي پروګرامونه ، چې د ژوندانه بېلابېلې ستونزې حلوي او د پرمختګونو لپاره لورى ټاکي ، چې یاده کړنه د پوهنتونونو یو له مهمو دندو شمېرل کېږي، ، چې تر دا مهاله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د فوق لېسانس کومه برنامه یا پروګرام نه لري ، چې په راتلونکو پینځو کلونو کې د ماسترۍ دورې د ایجاد لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په راتلونکو پنځو کلونو کې په سیاسي علومو او حقوقو څانګه کې د ماسترۍ پروګرامونه رامنځته کول.
2. د ماسترۍ پروګرام لپاره د اداري معاونیت په مرسته د بودیجې تخصیص.
3. د ماسترۍ پروګرامونو د ایجاد لپاره د لازمو کادرونو، وسایلو او امکاناتو چمتوالی.

## پنځم جز: د تحصیلي نصاب پراختیا او څارنه

دا ، چې نړۍ او ټولنه په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کې ده، پوهنتونونه او تحصیلي موسسې اړ دي ، چې د خپلو علمي پروګروامونو کریکولمونه د وخت، بازار او نورو ښکېلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کې د نصاب موضوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي یو کال مخکې پخوانی نصاب تعقیباوه، ، چې په ۱۳۹۹ کال کې د لوړو زده کړو وزارت د لایحې مطابق نوی نصاب تطبیق او عملي شوی، خو په پورتنیو سمسترونو کې یو د نصاب او کرېکولم په اړه یو څه ستونزې موجودې دي، ، چې په آینده کلونو کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو غوښتنوته د ځواب ویلو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځي په سطحه د هرې څانګې د متخصصینو او د څانګې د فارغانو په مرسته له نصاب څخه څارنه کول.
2. د پوهنځي په سطحه له درسي موادو څخه څارنه او معیاري درسي مواد چمتو کول.
3. د کریکولم کمېټې د غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالېسۍ تهیه کول.
4. د پوهنځي او د څانګو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کرېکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو تریننګونو چمتو کول.
5. له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خېرونو او کتابونو ترلاسه کول.
6. له ټاکل شوي کرېکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول

## شپږم جز: د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه

پوهنتونونه د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي ، چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نوموړې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي ، چې په پایله کې یې اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بېلابېلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د کیفیت د تضمین فعاله کمېټه لري، ، چې کال په کال د پوهنځي ارزونه کوي، ، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د ملي او بین المللي تضمینوونکو ادارو څخه د کیفیت د تضمین او اعتبار لاسته راوړل
2. په ملي او بین المللي کچه د پوهنتون او پوهنځي د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
3. د کیفیت د تضمین کمېټې لخوا د درسي کریکولم د تطبیق څخه څارنه کول.
4. د محصل محوری پر اساس د تدریس د تر سره کولو څخه څارنه، او ستادانو ته د محصل محوری پر اساس د تدریس په اړه سیمینارونه برابرول.
5. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول.
6. په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول.
7. محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.

## اووم جز: د تدریسي موادو چمتو والی

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي ، چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپل علمي پروګرامونه د نوي کریکولم سره د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، ، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای شي له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکېلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي ، چې پایله به یې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې تر دا مهاله پخواني کتابونه تدریس کېږي، ، چې له دې وروسته به د نصاب سره د درسي کتابونو د تطبیق لپاره د نصاب کمېټې په مرسته ی‌و هیئت ټاکي، ، چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په دې اړه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونیزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمېټې چارو ته پراختیا ورکول.

2. له کرېکولم سره د درسي کتابونو د تطبیق لپاره اسانتیاوې برابروي، د پوهنځي په کچه کتابتون جوړوي، او د موسسې الکترونیکي کتابتون څخه د استفادې کولو زمینه برابروي.
3. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپل علمي کادرونه د درسي کتابونو له کرېکولم سره د تطبیق لپاره تشویقوي، او سهولتونه ورته مهیا کوي.
4. د پوهنځي د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر د روزنیزو پروګرامونو برابرول.

## اتم جز: د برېښنایي زده کړو پروګرامونه

دا چې په نړیواله کچه پوهنتونونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غیر حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختیا ورکوي ، دې موخې ته د رسېدو په پار پوهنتونونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زیاته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنیزو بهیرونو د پیاوړتیا او موثریت لپاره پوهنتونونه خپلو اړوند ښکېلو خواوو ته د برېښنایي اسانتیاوو په چمتوکولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنتونونه اړ دي ، چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې رامنځته او ګټه ترې پورته کړي، تر دا مهاله د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په هره تدریسي خونه کې سکرین موجود دی، ، چې استادان ورڅخه استفاده کوي، د دې تر څنګه دا دریم سمستر دی ، چې د کرونا د پراختیا د مخنیوي په موخه د قرنطین له وجې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د خپلو استادانو لپاره د آنلاین زده کړو زمینه برابره کړې، ، چې د لاپرمختیا او ښه مدیریت په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړیو ته د ورکشاپونو برابرول.
2. په ټولو څانګو کې د برېښنایي زده کړو عامول.
3. د ټولو محصیلینو ته د برېښنایي زده کړو په هکله معالومات ورکول.

## دریم مبحث: معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی

دا چې په نړۍ کې معلوماتي ټکنالوژي د معالوماتو په ترلاسه کولو، خوندیتوب، د اړیکو په ټینګولو، ښه مدیریت او د روزنیزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده ترسره کوي، اړینه ده ، چې پوهنتونونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مت پیاوړې کړي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د استادانو لپاره کوم ځانګړی او ډیټابیس نه لري، د موسسې په سطحه ډیټابیس څخه

يواځې د محصلينو د حاضرۍ په برخه کې استفاده کوي، ، چې په آينده کې حقوقو او سياسي علومو پوهنځی له معالوماتي ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو په انسجام او چټکتيا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځي په کچه د انټرنيټي شبکې (Network Infrastructure) رامينځته کول.
2. د موسسې د ډيټابېس له لارې محصلينو ته د درسونو وړاندې کول او په کورنيو دندو ګمارل.
3. په پوهنځي کې د ډيپلومونو او ټرانسکريپټونو د جوړولو لپاره د ډيټابېس سهولت برابرول.
4. د پوهنځي په کچه د (VOIP) خدمتونو فعالول.
5. سوپر وای فای (WIFI) ته پراختيا ورکول
6. د پوهنځي اړوند ټولې څانګې او اداري معلوماتي ټکنالوژۍ پواسطه وصلول
7. په ټولو څانګو کې ډيجيټل ټيليفون اسانتياوې رامنځته کول
8. د معالوماتي ټکنالوژۍ د استعمال په هکله استادانو او اداري کارکونکو ته روزنيز ورکشاپونه برابرول.

## څلورم مبحث: معقول سازي

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د معقول سازۍ په برخه کې د سراتيژيک پلان د يوې مهمې برخې په توګه بايد لاندې مواردو ته خپله پاملرنه ډېره کړي.

### لومړی جز: د محصلينو جذب

دا دريېم سمستر دی ، چې د التقوی لوړو زده کړو موسسې د محصلينو جذب کم شوی؛ ځکه په هېواد کې د کرونا د زياتوالي د مخنيوي په موخه قرنطين اعلان شوی، بل دا ، چې د التقوی لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي تدريسي خونې يو څه کمې دي، همدا يې لامل دی ، چې د محصلينو د جذب مخه نيول شوې، په راتلونکو پينځو کلونو کې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو د جذب لپاره لاندې فعاليتونه تر سره کوي:

1. د پوهنځي لپاره جدا تعمير جوړول، تر څو په کافي اندازه تدريسي خونې ولري.
2. په پوهنځي کې د هغه نويو څانګو ايجادول، ، چې په ټولنه کې ورته ضرورت ليدل کېږي او په بازار کې يې تقاضا زياته وي.
3. په پوهنتون او پوهنځي کې د ټولو علمي پروګرامونو څخه موثره ګټه پورته کول.
4. عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معالومات ورکول.
5. د وخت له غوښتنو سره سم د نويو علمي پروګرامونو رامنځته کول.

## دویم جز: د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول

د نړۍ ډېری پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لارې محصلینو ته د ښو پایلو درلودونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي ، چې له یوې خوا محصلین کولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پر مخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، تر دې مخکې هم کرېډیټ سیستم څخه استفاده کوله او د وزارت د لوایحو سره سم یې نصاب عملي کړی، خو په آینده پینځو کلونو کې د کریډیټ سیستم سره د زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري:

1. د پوهنځي د کرېکولم کمېټې په مرسته د کرېډیټ سیستم ټولو نیمګړتیاوو او ضرورتونو سنجولو سره یو معیاري کریډیت سیستم رامینځته کول.
2. د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه پېلول
3. د اداري معاونیت په مرسته د معیاري کریډیټ سیستم لپاره د بودیجې ځانګړي کول.
4. د کریډیټ سیستم د موثریت په اړه محصیلینو ته معلومات ورکول.
5. په اړوندو څانګو کې د کرېډیټ سیستم عملي کېدو څارل.
6. د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړې کول.
7. د ترانسکریپونو د ترتیب په برخه کې د نمرو درجه بندي د سلنې تر څنګ د GPAپه سیستم برابرول.

د محصلینو لپاره د عملي کار کولو د اسانتیاوو برابرول.

## دریم جز: عملي کار او علمي سفرونه:

د تدریس یو مهم اړخ دی، چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي عملي کارونه عبارت دي له: د حقوقي کلینک له لارې د قاضي، څارنوال، وکیل، محرر، منشي او نورو د رول او عملي کار زده کړه، په خپله رشته کې ستاژ، علمي سفرونه. ، چې تر اوسه پورې حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د خپلو محصلینو د عملي زده کړو لپاره ډېر پروګرامونه پر لاره اچولي، محصلینو ته یې د قاضي، وکیل، څارنوال او محرر د رول د زده کولو لپاره تمثیلي محکمې جوړې کړې، او د پارلمان د وکیل د رول د زده کړې لپاره یې تمثیلي پارلمانونه جوړ کړي، خو د مجهز حقوقي کلینک د نشتون له وجې په کافي اندازه عملي کارونه نه دي تر سره کړي، په همدې ترتیب علمي سفرونه یې ډېرو پوهنتونونو ته کړي، خو د امنیت د نشتون له وجې په کافي اندازه نه دي تر سره شوي، په آینده پینځو کلونو کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د عملي کارونو د تر سراوي لپاره لاندې فعالیتونه تر سره کوي:

1. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په لټه کې دی تر څو د محصلینو د علمي سفرونو لپاره پر امنه ځایونه پیدا او د علمي سفر زمینه مساعده کړي.
2. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د اداري معاونیت په مرسته د علمي سفرونو لپاره یو اندازه بودیجه ځانګړې کوي.
3. د مدني او خیریه کارونو په تر سره کولو سره د علمي کادرونو او محصلینو تشویقول، تر څو علمي کادرونه او محصلین خپلې علمي لاسته راوړنو څخه د ټولنې په خیر عملي کارونو کې برخه واخلي.
4. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د محصلینو د عملي زده کړو لپاره مجهز حقوقي کلینک جوړوي.
5. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني سهولتونو پراختیا ورکول
6. په نړیوالو علمي سیالیو کې محصلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول

## څلورم جز: د محصلینو لپاره د فرهنګي او سپورټي خدماتو او اسانتیاوو برابرول

پوهنتونونه هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي ، چې پوهنتونونه د هېواد او په نړیواله کچه د محصیلینو توجه او رضایت خپل کړي، په همدې اساس د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی تر اوسه پورې د محصلینو د فرهنګي او سپورټي خدماتو په اړه کومه آسانتیا نه ده وړاندې کړې، ، چې په آینده پینځو کلونو کې د فرهنګي او سپورټي خدماتو او سهولتونو برابولو لپاره لاندې فعالیتونه تر سره کوي:

1. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی به یوه علمي مجله ایجاد کړي تر څو محصلین وکولای شي خپلې مقالې د نوموړې مجلې له لارې نشر کړي.
2. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په پام کې لري د سیمینارونو یوه هفته ایجاد کړي، تر څو هر محصل وکولای شي، خپله مقاله د نورو پر وړاندې ارایه کړي.
3. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د اداري معاونیت په مرسته د فرهنګي او سپورتي خدماتو لپاره بودیجه ځانګړې کوي.
4. د پوهنځي په سطحه د والیبال او کریکټ ټیمونه جوړول.
5. د موسسې د نورو پوهنځیو او له پوهنتون څخه خارج د نورو پوهنتونونو له محصلینو سره د سیالیو پر لاره اچول.
6. د پوهنځي د امکاناتو په پام نیولو سره محصلینو (ښځینه او نارینه) لپاره ټرانسپورټ ته پراختیا ورکول

## پنځم مبحث: زیربناوې

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په پام کې لري ، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د زیربناوو د پراختیا په موخه لاندې مواردو ته خپله پاملرنه ډېره کړي.

### لومړی جز: حقوق او سیاسي علومو پوهنځي لپاره د مستقلې ودانۍ جوړول

دا چې تر اوسه پورې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی خپله مستقله ودانۍ نه لري، نو د دغه پلان د تطبیق پر مهال به د زیربناوو په برخه کې د پوهنځي لپاره د مستقلې ودانۍ جوړول یو لومړیتوب وي همدارنګه درسي صنفونه مو معیاري وسایل لري خو کم دي، نوموړی پوهنځی د جرمي اثارو د پېژندلو لپاره کوم معیاری لابراتوار نه لري او د حقوقو پوهنځی ځانګړې او مجهزه کتابخانه نه لري د دې موخو د تر لاسه کولو لپاره به حقوقو پوهنځی لاندې اقدامات ترسره کړي.

1. د حقوقوو پو هنځی به په راتلونکو پنځو کالو کې د مالی او د موسسې د رهبرۍ او په ځانګړې توګه د مالي او اداري معاونیت په مرسته خپله ځانګړې ودانۍ ، چې په معیاري وسائیلو به سمباله وي جوړه کړي.
2. په صنفو کې د پروجکتور او انټرنیټ استفاده کول شته دي،د حقوقو پوهنځي په دې کوښښ کې دی ، چې په پنځه کالو کې معلوماتي تکنالوژی باندې درسي صنوفونه اداري معاونیت په مرسته سمبال کړي.

### دوهم جز: جرمي اثارو د پېژندلو لپاره یو مجهز لابراتوار جوړول

کریمنال تخنیک لابراتوار د محصلینو لپاره د عملی زده کړو زمینه برابر وي او همدرانګه استادانو د تحقیق لپاره هم ګټور دی د کریمنال تخنیک یو مجهز لابراتوار جوړېدو لپاره د حقوقو پوهنځی د مالي او اداري معاونیت په مرسته لاندې کړنې تر سره کوي

1. دکریمنال تخنیک لپاره جلا دفتر جوړه ول او دفتر لپاره ټول لاژمې وسائیل اخیستل.
2. کریمنال تخنیک ټول ضروري وسائیل اخیستل.
3. کریمنال تخنیک وسائیلو د استعمال لپاره یو تخنیکي سړی په دنده ګمارل.

### درېیم جز: کتابتون پراختیا او تجهیز ول

التقوی دلوړو زده کړو موسسه یو عمومي کتابتون لري ، چې په دغه کتابتون کې د حقوقو او اقتصاد د پوهنځیو کتابونه شتون لري،ولی حقوقو پوهنځی ځانګړی کتابتون نه لري، د حقوقو پوهنځی به په

راتلونکو پينځو کالونو کې يو ځانګړی کتابتون د مالي او اداري معاونيت په مرسته جوړه کړي د هدف تر لاسه کولو کې به لاندې کړنې ترسره شي.

1. د حقوقوو پوهنځی به داسي يو ځای د کتابتوب د ودانۍ لپاره غوره کوي ، چې ددې ظرفيت ولري ، چې ډېر کتابونه پکې ځای پر ځای شي او د محصلينو د زده کړي لپاره مناسب وي.
2. د مطالعی لپاره به اناثو ته جلا او ذکرو ته جلا ځايونه جوړ کړل شي
3. د حقوقو د پوهنځی کتابتون لپاره يو منظم ډيټابيس سيستم جوړ شي.
4. د کتابتون امريت به هر کال په اخر کې د اړتياوړ کتابونه مشخص کوي او لست به يې مالي او اداري معاونيت ته سپاري.

## څلورم جز: د کاري دفترونو پراختيا

د حقوقو پوهنځي اداري کارکونکي او اســتادان مناســب کاري دفترونه نه لري، د حقوقو پوهنځی په راتلونکو پنځو کالو کې د مالي او اداري معاونيت په همکاری ســره غواړي خپلو اداري کارکونکيو او استادانو ته دمناسب دفترونو جوړولو لپاره يو ودانۍ جوړه کړي .

1. حقوقو پوهنځی غواړي ، چې يو ودانۍ جوړه کړي ، چې د دوه پوړو څخه زياته نه وي.

## پنځم جز: د حقوقي کلينيک پراختيا او معياري کول

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی په پام کې لري ، چې په راتلونکو پينځو کلونو کې د حقوقي کلنيک د پراختيا په موخه لازم تشکيلات او سهولتونه رامنځته کړي، تر څو د حقوقو پوهنځي محصلينو ته د عملي زده کړې ښه زمينه مساعده شي.

## التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه

## د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی

## د ستراتیژیک پلان پنځه کلنی عملیاتي پلان

| ګڼه | فعالیتونه | موخې | مسؤلین | د ترسره کولو ځای | لګښت | د فعالیت د ترسره کولو وخت | | | | | بوله موده | پیل - پای | اغیزې | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | کال 1400 | کال 1401 | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | | | | |
| 1) | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی لپاره د مستقلی ودانۍ جوړول | د پوهنځی لپاره د مستقلی ودانۍ درلودل | د پوهنځی رئیاست/ مالی او اداری چارو معاونیت | اوله ناحیه | | | | | | | څلور کاله | 1400-1403 | | |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 2) | د حقوقو پوهنځی کې د ماستری، برنامې ایجاد | علمي ارتقا او د عوایدو زیاتوالی | د پوهنځی ریاست/ علمي چارو معاونیت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | څلور کاله | 1400-1403 | | |
| 3) | د حقوقو پوهنځي کې د ځانګړی کتابتون ایجاد | د څېړنو او اړونده برخو کې د کتابونو د ستونزو حل | د پوهنځی ریاست/ مالی او اداري چارو معاونیت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | یو کال | 1403-1403 | | |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4) | د لالوړو زده کړو (ماسترۍ او دوکتورا) د فرصتونو برابرول | د استادانو د علمی سوی او تحصیلی درجی لوړول او ظرفیت جوړونه | د پوهنځي ریاست او د بهرنیو اړیکو کمیته | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |
| 5) | د هوکړه لیکونو رامنځته کول او پراختیا | د اړیکو پراختیا | د پوهنځي رهبري | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6) | د لالوړو زده کړو (ماسترۍ او دوکتورا) د فرصتونو برابرول | د استادانو د تحصیلی سوی لوړول او ارتقا | د پوهنځي ریاست/ علمي چارو معاونیت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | ■ | | | یو کال | 1402- 1402 | | |
| 7) | د علمي سفرونو، ورکشاپونو او سی‌می‌نارونو رامنځته کول | ظرفیت لوړونه | د پوهنځي رهبري | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | پنځه کاله | 1400-1404 | | |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8) | د څېړنو پراختيا او په ملي او نړيوالو معتبرو ژورنالونو يې خپرول | محصلينو ته د زده کړې زمينه برابرول | د پوهنځي رياست/علمي د څېړنو کميټه | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی | | | | | | | دوامدار | 1402-1404 | | |
| 9) | په ټولنه کې ونډه | بېلابېلو اقتضاتو ته رسيده ګې او د ټولنې د ستونزو حل | د پوهنځي رياست | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی | | | | | | | دواملا | 1402-1404 | | |
| 10) | د معاصری تکنالوژۍ تطبيق | د سپورت پراختيا | د پوهنځي رياست/ بدني روزنې کميټه | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی | | | | | | | دري کاله | 1402-1404 | | |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 11 | په پوهنځي کې د دوکتورا درلودونکو استادانو جذبول | د علمي او څیړنیزو ارتیاوو پوره کول | د پوهنځی ریاست/ علمی چارو معاوینت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |
| 12 | په حقوقو پوهنځی کې د ضرورت وړ اداري کارمندانو جذبول | اداري نظم را منځته کول | د پوهنځی ریاست/ اداری معاوینت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |
| 13 | په پوهنځي کې د رواني مشاور جذبول | د رواني ستونزو حل کول | د پوهنځی ریاست/ علمی معاوینت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | یو کال | 1402-1402 | | |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 14) | د محصلینو لپاره د سکالرشیپونو اعلانول | په ټولنه کې ونډه او د زده کړو زمینه برابرول | د پوهنځی ریاست/علمي معاونیت | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی | | | | | | | دري کاله | 1402-1404 | | |
| 15) | د کارمندانو او استادانو لپاره د ځانګړو امنیتي تدابیرو نیول | امنیتي خوندیتوب رامنځته کول | پوهنځی ریاست/ د حفظ او مراقبت کمیټه | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |
| 16) | د استادانو او کارمندانو د وظیفوي د خوندیتوب په منظور د مؤثرو اقداماتو ایجادول | وظیفوي خوندیتوب رامنځته کول | پوهنځی ریاست/ د حفظ او مراقبت کمیټه | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی | | | | | | | پنځه کاله | 1400-1404 | | |

## د ستراتېژۍ اجرا

د ستراتیژی د تطبیق څخه د ښې څارنې په موخه د پوهنځي (سراتېژيک پلان د تطبیق څځه د څارنې او ارزونې کمیسیون) لخوا د څارنې یو میکانیزم ایجادیږي.

د ستراتیژی د تطبیق لپاره موږ دري لویې ټاکنې لرو:

1. د تطبیق لپاره بستر سازي او زمینه سازي.
   a. د پوهنځي په ساختار او تشکیلاتو کې تغیر.
   b. په مدیریتي سیستمونو او شاخصونو کې بدلون او پراختیا.
   c. د پوهنځي د رسمیت پیشنهادي طرحې پراختیا.
   d. د پوهنځي د رهبرۍ او مدیریتي سبک په تغیر کې پراختیا.
2. د پوهنځي د ستراتیژۍ عملیاتي کول:
   a. په پنځو کلونو کې د ستراتیژۍ د تطبیق لپاره د نقشې جوړول.
   b. د بودیجې تدوین او د اړونده منابعو تخصیص.
3. د ضرورت په وخت کې د پوهنځي په داخلي پالیسیو او سیاستونو کې تغیر د کمیت د ډېروالي او د کیفیت د بهتروالي په موخه.

### د استراتېژۍ ارزیابي

د سراتېژيک پلان د څارنې او ارزونې کمیسیون له خوا د ستراتیژیو ارزیابي لپاره یو میکانیزم جوړیږي ، چې نوموړي ارزونه په څلورو لاندې پړاوونو کې ترسره کیږي.

1. د اندازه ګیرۍ سنجول او د ستراتیژۍ د ارزونې مبنا رامنځته کول.
2. د انساني عواملو د کړنو سنجول.
3. د انساني قوې پر کړنو باندې تجدید او بیا کتنه.
4. په کال کې یو ځل اصلاحي اقدماتو ترسره کول.

## د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی پنځه کلن (۱۴۰۰-۱۴۰۴) مالی پلان او بودجه

| ګڼه | هدف | د اهدافو د ترلاسه کولو اړوند فعالیتونه | مرجع | مسؤل / مسؤلین | په تاکلي کال کې د اړتیا وړ بودجه | | | | | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د علمي څېړنو پراختیا | • د څېړنې په برخه کې د استادانو ظرفیت لوړونه<br>• په بېلابېلو ملي او نړیوالو ژورنالونو کې د څېړنيزو موضوعاتو خپرول<br>• له ټولنې سره د څېړنو د پایل و شریکول<br>• د څېړنو په برخه کې د نیاز سنجی فورمو له لارې د ستونزو تشخیص کول | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیا ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی/څېړنو کمېټه/اداري معاونیت | 77,760 | 77,760 | 77,760 | 77,760 | 77,760 | |
| 2 | • د پوهنځي په کچه د کتابتون رامنځته کول | • د حقوقو پوهنځي کتابتون ته ځانګړی ځای رامنځته کول<br>• په کتابتون کې د محصلینو په نسبت د کتابونو ځای پر ځای کول<br>• د کتابتون په برېښنايي برخه کې انکشاف رامنځته کول | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی/کتابتون آمریت/ اداري/ معاونیت | - | - | - | - | 1,300,000 | |

| ګڼه | هدف | د اهدافو د ترلاسه کولو اړوند فعالیتونه | مرجع | مسؤل / مسؤلین | په ټاکلي کال کې د اړتیا وړ بودجه | | | | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | په ملي او نړیواله کچه د اړوندو ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کول | • په ملي او نړیواله کچه د ذیدخلو لوریو تشخیص کول<br>• په ملي او نړیواله کچه د هوکړه لیکونو لپاره زمینه سازي کول<br>• ذیدخلو لوریو سره د متقابلې همکارۍ پر بنسټ هوکړه لیکونه رامنځته کول | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی/بهرنیو اړیکو کمېټه | - | 500,000 | 500,000 | - | - | |
| 4 | د استادانو لپاره د علمي ترفیعاتو او رتبو منظم میکانیزم رامنځته کول او تطبیقول | • د پوهنځي په کچه د علمي ترفیعاتو د کمېټي رامنځته کول<br>• د ملکي لوړو زده کړو د قانون پربنسټ علمي ترفیعاتو د چارو مخته وړل<br>• په نړیوالو ژورنالونو کې د علمي کادرونو د اثارو خپرول | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي/علمي معاونیت | 100,000 | 550,000 | 500,000 | 600,000 | 700,000 | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | د علمي سفرونو، ورکشاپونو او سیمینارونو برابرول | • محصلینو ته په بېلابېلو برخو کې د علمي ارتقاء په موخه د سفرونو، <br>• د ورکشاپونو او سمینار ونو دایر ول استادانو د ظرفیت لوړوني په موخه د بېلابېلو علمي سیرونو، ورکشاپونو او سمینارونو دایرول | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسپ علومو پوهنځي/ اداری معاونیت | 70,000 | 95,000 | 120,000 | 145,000 | 170,000 | |
| 6 | له هیواده بهر د فوق لیسانس برنامو زمینه برابرول | • له بېلابېلو بهرنیو پوهنتونونو سره په علمي برخه کې د بېلابېلو هوکړه لیکونو لاسلیک کول <br>• د هغو مستعدو محصلینو لیږل بهرنیو پوهنتونونو ته چې په بهر کې د زدکړې وړتیا لري | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی/علمي معاونیت/اداری معاونیت | - | 300,000 | 850,000 | 1,000,000 | 1,250,000 | |
| **ګڼه** | **هدف** | **د اهدافو د ترلاسه کولو اړوند فعالیتونه** | **مرجع** | **مسؤل / مسؤلین** | **په ټاکلي کال کې د اړتیا وړ بودجه** | | | | | **کتنې** |
| 7 | د پوهنځي په کچه د خانګو ایجاد | • د پوهنځي په کچه د بېلابېلو علمي برنامو او عملي څانګو رامنځته کول <br>• په نویو څانګو کې د متخصصو اشخاصو ګمارل | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتیژیک پلان | حقوقو او سیاسو علومو پوهنځي/د موسسي رهبري | - | - | - | 100,000 | 580,000 | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | د ورزشي او تفريحي چاپيريال رامنځته کول | • د فوټبال، کرکټ او واليبال ټيمونو رامنځته کول<br>• فوټبال، کرکټ او واليبال لوبو لپاره د وسايلو او نورو ضروری موادو اخيستل<br>• فوټبال، کرکټ او واليبال لوبو لپاره د لوبغالو جوړول | د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ستراتيژيک پلان | جقوقو او سياسي علومو پوهنځی/اداری معاونيت | - | 780,000 | 700,000 | 1,500,000 | 800,000 | |

په پورته ډول د التقوی د لوړو زده کړو موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتېژیک پلان د ستراتیژیک پلان کمېټې له خوا (  /  /1402) نېټې (  ) نمبر پروتوکول کې تصؤیب شوی.

سید اسرار صمیم

د ستراتیژیک پلان کمېټې مسؤل

په پورته ډول د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتېژیک پلان د پوهنځي علمي شورى له خوا (  /  /1402) نېټې (  ) نمبر پروتوکول کې تصؤیب شوی.

زاهدالله سیدی

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ریس

په پورته ډول د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ستراتېژیک پلان د مؤسسې علمي شورى له خوا (۳۰/۳/۱۴۰۰) نېټې (۴) نمبر پروتوکول کې تصؤیب شوی.

خوشحال جواد

د مؤسسې ریس